# آفاقي سَیر



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آفـاقــي سَــيــر

بسم الله الرحمن الرحيم

(قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ)

(سورة النمل: ٦٩)

ليكوال: اعجازالحق "محرابي"

۱۴۰۲ لمريز كال

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د کتاب پېژندنه

# (يــونـلـيـک)

د کتاب نوم: آفـاقــي سَــيــر
ليکوال: اعجازالحق "محرابي"
کتونکی: استاد فرهاد "جلالزی"
کمپيوټري چارې: اعجازالحق "محرابي"
د چاپ کال: ۱۴۰۲ لمريز کال
برېښناليک: ejazulhaqmehrabi888@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ډالۍ!

خپله دا وړه غونډې هڅه مې په ډېره مینه او احترام سره د ژوند دوو لویو شتمنیو، ګـران پلارجـان او ګـرانې مورجـانې ته ډالـۍ کوم.

په مینه

اعجازالحق "محرابي"

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دا کتاب مې ولې ولیکه؟

له کوچينوالي څخه مې دا عادت درلود چې کله به کوم مسافر له سفر څخه بېرته کور ته راغی، په ببړه سره به یې پوښتنې ته ورغلم؛ ډېر به دې ته لېواله وم ترڅو د نوموړي د سفر له خاطراتو، لیدلي حالات، تجربو او په ورته موضوعاتو ځان پوه کړم. د نوموړي کس د سفر د ټولو ویل شویو حالاتو انځور به مې ډېر وخت په ذهن کې و او هیله به مې دا وه چې ښنگه همدا نورو خلکو ته په ښه توگه بیان او ولېږدوم ترڅو خلک هم ترې خبر شي او په خپلو سفرونو کې ترې گټه واخلي. د خلکو د سفرونو د تجربو، لیدلي حالات او احوال باندې ځان پوهول مونږ ته د سفر په اړه پیلیز مالومات راکوي او زمونږ د سفر د لا ښه والي لپاره ډېر گټور کیدای شي.

د خلکو د سفرونو په اورېدو ډېر وخت تېر شو چې بلاخره الله پاک دا توفیق را په برخه کړ ترڅو سفر ته مخه کړم او د خلکو اورېدلې کیسې او ویلی حال په سترگو ووینم چې په دې سره مې د فکر هغه موجود ابهامات حقیقت ته بدلون وموند. رښتیا یې ویلي دي: تجربه د علم پلار دی. د خلکو د سفر تجربې اورېدل د سفر لپاره داسې تشبیه ورکولای شو لکه په پوهنتون کې چې د لومړي کال محصلین د هرې رشتې لپاره د بنسټونو مضمون لولي.

د دې اثر (یونلیک) د لیکنې له اساسي موخو څخه د سفر په هکله پر اړینو مقدماتو، لارو چارو باندې ځان پوهول او د سفر ماهیت ته د قرآن او نبوي احادیثو په رڼا کې اشاره کول دي.

زه اعجازالحق محرابي د ایران هېواد د اصفهان پوهنتون محصل یم.

دغه کتاب (یونلیک)، د ایران هېواد فارس ولایت (شیراز ښار) ته د سفر د لیدلي حال او تجربو پر بنسټ، لیکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سفر د ۱۴۰۲ لمریز کال، د سلواغې میاشتې په ۸ نېټه باندې، د دوو ورځو لپاره ترسره شو.

په دې سفر کې د یاد پوهنتون څخه زما مل مخلص ملګري.

- استاد عبیدالله غزنوي ( د خصوصي حقوقو د دکترا محصل)
- آصف الله آرین ( د نړیوالو اړیکو د ماسټري پروګرام محصل)
- شکرالله محمودي ( د جزا او جرم پېژندنې د ماسټري پروګرام محصل)
- امین الله کوهي ( د نړیوالو اړیکو د ماسټري پروګرام محصل)

په دې کتاب کې ټول ذکر شوي موضوعات، زما د شخصي تجربو او لیدلي حال، نچوړ دی.

همدارنګه ذکر شویو موضوعاتو ته د قرآن کریم او احادیثو له نظره هم رڼا اچول شوې ده.

په درنښت

اعجازالحق "محرابي"

(c) ketabton.com: The Digital Library


## مننه او کور ودانی!

په لومړي کې، د خپل خالق الله (جل جلاله) څخه ډېر شکر او مننه کوم چې ماته یې دا وړتیا را په برخه کړه ترڅو مې وکولای شول دا کتاب (یونلیک) ولیکم.

په دوهم قدم کې، د خپلې قدرمنې کورنۍ څخه ډېره مننه کوم چې تل یې د علم په ډګر کې زما مالي او معنوي ملاتړ کړی او کوي.

په دریم قدم کې، د خپل خوږ او قدرمن استاد فرهاد "جلالزي" څخه د زړه له تله مننه کوم چې تل له ما سره د لیکنې او ژباړې په برخه کې مرسته کوي او تل مې هڅوي، مثبته انګېزه او انرژي راکوي او زما د لیکنو کتنه په پوره مهنت او خواري سره، ترسره کوي.

په درنښت

اعجازالحق "محرابي"

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د دې کتاب لوستل خورا ګټور دي!

الله تعالی د هر انسان په ختهٔ کې د څېړنې، پنځونې او پلټنې ځواک ايښی دی. زيارکښ، هوډمن، د فکر او اند خاوندان تل د ښو په لټه کې وي، نورو ته د هوساينې او سوکالۍ د برابرولو لپاره، شپه او ورځ لګيا وي او د څېړنو په هر ډګر کې د حيرانوونکو پرمختياوو پر لور، ګامونه پورته کوي.

ويارم چې بيا هم ځوان، تکړه او با استعداده ليکوال ښاغلي اعجازالحق محرابي د خپل تازه ليکل شوي اثر، د کتنې لپاره فرصت راکړ. د ښاغلي محرابي دغه زيار او هڅه ما ته دا هيله لا پياوړې کړه، چې د پښتو ژبې ځوان ليکوالان، مينه لري چې د دوی ژبه هم، د نورو ژبو په څېر، علمي پانګه ولري. دا کتاب چې ښاغلي محرابي صاحب ليکلی (آفاقي سَير) نوميږي او د يونليک په قالب کې ليکل شوی دی.

ژوند هم د يوه کوچني مګر خورا مهم سَير حيثيت لري، هغه سَير چې اړينې موخې تعقيبوي او په پای کې يې پايله، برخليک ټاکونکې وي. سفر کول او له يوه ځايه بل ځای ته تلل پر ارواپوهنې سربېره، ډېرې داسې علمي، اجتماعي، فرهنګي، اقتصادي او فلسفي ښېګڼې لري، چې پر انسانانو يې ښيندي، تر دې حده چې سنت اګوستين وايي: ( نړۍ د يوه کتاب په څېر ده، او هغه کسانو چې سفر يې نه وي کړی، يوازې يوه پاڼه يې لوستلې ده ).

هر انسان د خپل تکامل لپاره اړ دی چې سفر وکړي، نو څومره به ښه وي چې د سفر د ډولونو، مخينې، نزاکتونو، او له سفر څخه د ګټې او خوند اخيستلو په هکله

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوه شو! له نېکه مرغه چې دغه پوهه ښاغلي اعجازالحق محرابي، د دې اثر په واسطه تر مونږه رارسوي.

دا چې محرابي صاحب د سفر د گټو، موخو، ډولونو او خوندونو په هکله، په زړه پوري مالومات راټول کړي، پرې خوښ يم او نوموړي ته د لا ډېرو برياوو او همدارنگه پښتو ادب ته د خدمت هيله لرم. په پای کې غواړم د ښاغلي ابن بطوطه په ارزښتناکه وينا، خپلې ليکنې ته د پای ټکی کېـږدم چې وايي: (ممکن د سفر په پيل کې د ويلو لپاره هېڅ خبره و نه لرئ؛ مگر سفر، په پای کې له تاسو څخه ليکوال جوړوي).

په درنښت

فرهاد "جلالزی"

۱۴۰۲ – ۱۲ - ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لړلیک

سریزه .......................................................................... ۱
د قرآن او عیني لیدلوري له نظره د سفر فلسفه ........................ ۲
سَیر او سیاحت ............................................................... ۳
د سفر د پیل څرنګوالی................................................... ۶
د سفر ورځ، یک شنبې، د سلواغې میاشتې ۸ نېټه..................... ۷
لومړۍ ورځ ................................................................... ۱۱
حضرت حافظ (رح) څوک دی؟!............................................ ۱۲
لسان الغیب په څه مانا؟!.................................................. ۱۳
د پورتني فال تفسیر:........................................................ ۱٤
حضرت سعدي (رح) څوک دی؟! ........................................... ۱۵
زندیه حکومت................................................................ ۱۷
د کریم خان زند د ارګ ظاهري حالت! .................................. ۱۷
دویمه ورځ .................................................................... ۲۰
تخت جمشید؟!................................................................ ۲۰
نقش رستم، شیراز؟!......................................................... ۲۵
د سفر د رامنځته کېدو مفکوره ........................................... ۲۶
د سفر ډولونه، موخې او ځانګړتیاوې..................................... ۲۸
علمي (تحقیقي ) + فرهنګي................................................. ۲۸
ځانګړتیاوې.................................................................. ۲۸
تفریحي سفر.................................................................. ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځانګړتیاوې........................................................................ ۲۸
سیاحتي (زیارتي) سفر ........................................................................ ۲۹
ځانګړتیاوې........................................................................ ۲۹
زمونږ سفر فارس ولایت (شیراز ښار) ته! ........................................................................ ۲۹
علمي........................................................................ ۳۰
فرهنګي:........................................................................ ۳۱
سیاحتي (زیارتي)........................................................................ ۳۱
زیارتي:........................................................................ ۳۲
تفریحي:........................................................................ ۳۳
د سفر ملګري ........................................................................ ۳۳
د سفر مدیریت........................................................................ ۳۶
مالي: ........................................................................ ۳۶
زماني: ........................................................................ ۳۸
د تعامل له اړخه: ........................................................................ ۳۸
د سفر تجملي اړخ........................................................................ ۳۹
ډالۍ ........................................................................ ٤۱
پیامونه........................................................................ ٤۳
پایله!........................................................................ ٥٥
ماخذونه ........................................................................ ٥۷
د سفر انځوریز کڅوړه ........................................................................ ٥۹

# سریزه

د قرآن کریم، د دې آیت په مصداق، (سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ). سفر په دوه ډوله وېشل شوی دی: آفاقي او انفسي سفر. آفاقي سفر ( سَیر): هغه سفر ته ویل کیږي چې مسافر د نړۍ ظاهري لیدو او کتو ته مخه کوي او یا هم که داسې ووایم بده به نه وي چې د خپل نفس یا منځني وجود بهر ته سفر کوي ترڅو د الله (جل جلاله) د مخلوقاتو مطالعې ته په ظاهري بڼه کتنه وکړي. که آفاقي سفر ته د مثال په قالب کې کتنه وکړو په دې مانا: کله چې غواړئ آفاقي سفر وکړئ، نو طبیعي خبره ده چې تاسو به د الله (جل جلاله) د مختلفو مخلوقاتو څخه، څه د انسان په بڼه، څه د حیوان په بڼه او څه د طبیعت په بڼه وي، لیدنه وکړئ، د بېلابېلو فرهنګونو، جغرافیاوو، شخصیتونو، طبیعي زېرمو او مناظرو، ځنګلونو او د کایناتو د منظم او ښکلي خلقت او داسې نورو مواردو څخه به خبر شئ او په دې به پوه شئ چې په رښتیا هم د دې ټولو د رامنځته کولو او کنټرولولو تر شا حتما څوک شته، چې هغه مبارک ذات الله (جل جلاله) دی. د ظاهري سفر پر وړاندې، باطني سفر دی چې انسان په دې ډول سفر کې یوازې د خپل وجود او باطن مطالعې ته کتنه او په اړه یې فکر کوي .

د پورتنیو موضوعاتو د مطالعې په پایله کې، مونږ هم یوه ډله ملګري، د الله (جل جلاله) د خلقت د مطالعې په پار، د ایران هېواد فارس ولایت (شیراز) ښار ته سفر وکړ او د دې سفر په پایله کې مو د پورتنیو موضوعاتو حقیقت په عیني توګه ولیدو او دا سفر د دې باعث شو ترڅو تاسو قدرمنو لوستونکو ته خپلې تجربې او لیدلی حال د دې کتاب په وړاندې کولو سره شریک کړم. هیله مې دا ده چې دا کتاب ستاسو لپاره ګټور واوسي او ستاسو د اطلاعاتو په زیاتوالي کې مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د قرآن او عیني لیدلوري له نظره د سفر فلسفه

الله پاک د سفر په اړه فرمايي:
(قُلْ سِيرُوا فِى الأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللّهُ يُنْشِئُ النَّشْأَةَ الآخِرَةَ إِنَّ اللّهَ عَلَى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ( القرآن – عنکبوت: ۲۰ ).

دوی ته ووایه: په ځمکه کې و ګرځئ، او وګورئ چې الله (جل جلاله) د پيدايښت پيل په څه ډول کړی دی، بيا به الله (جل جلاله) دوهم ځل هم ژوند در په برخه کړي، دا يقيني ده چې الله (جل جلاله) په هر څه قدرت لري. (ژباړه)

الله تعالی د یاد آیت په لومړی برخه کې، خلکو ته د ( آفاقي سَير) په هکله د معاد په موضوع کې دعوت ورکوي، حال دا چې مخکينی آیت بیا د (انفسی سَیر) جنبه لري. (عنکبوت: ۱۹ )

الله تعالی فرمايي: دوی ته ووايه په ځمکه کې وګرځئ، د رنګارنګو ژوندي موجوداتو لیدنه وکړئ، د مختلفو قومونو او ټولنو ځانګړنې مطالعه کړئ او په دې فکر وکړئ چې الله تعالی لومړنی خلقت په څه ډول رامنځته کړی؟!
(قُلْ سِيرُوا فِى الأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ).

ورپسې، هماغه الله (جل جلاله) چې د دې قدرت لري چې دا ټول مختلف قومونه او رنګارنګ موجودات پيدا کړي، د آخرت نشأه به هم رامنځته کوي.
(ثُمَّ اللّهُ يُنْشِئُ النَّشْأَةَ الآخِرَةَ).

خلاصه دا چې د پورتنيو آياتو د تفسير په پايله کې؛ سفر په دوه ډوله دی.

- ظاهري (آفاقي سَير)
- باطني (انفسي سَير)

(c) ketabton.com: The Digital Library


په پورتني آيت کې، الله تعالی خپلو بندګانو ته د آفاقي سفر په هکله وايي، حال دا چې په قرآن کې داسې نور مبارک آيتونه هم شته چې الله تعالی بندګانو ته د (انفسي سَير) په هکله توصيه کوي؛ چې افضل يې هم انفسي سَير (باطني سفر) دی.

په الرسالة القشيرية کې راځي: ( په زړګونو به ووينئ چې سفر ته زړه ښه کوي، خو ډېر کم به ووينئ، چې د زړونو سفر وکړي (انفسي سفر) (ژباړه).

## سَير او سياحت

دنيا له ډېرو ښايسته شيانو او ښکليو څيزونو څخه ډکه ده. په نړۍ کې ډېر خوندونه او پټ لذتونه شته، آفاق د بېلابېلو ننداړو او رنګارنګ تماشو يوه سينما ده، لاکن غړېدلې سترګې، روښانه نظر، لټوونکی دماغ او سربېره پردې سَير او سياحت، ګرځېدل او راګرځېدل حرکت او خوځېدل غواړي، د خدای په مخلوقاتو او پيدايښت کښې يو شی هم بې فايدې او بې مزې نشته، هر شی او هر څېز د يو مقصد لپاره پيدا شوی دی، لاکن ټول عمر پلټنه او څېړنه غواړي تر څو چې د کايناتو د پيدايښت ښېګڼې را برڅېره او څرګندې شي. د دنيا د رنګارنګ خوندونو او پټو رازونو د څرګندولو لپاره د ځمکې پر مخ ګرځېدل او راګرځېدل يوه ضروري خبره ده.

الله پاک هم په همدې هکله په خپل مبارک کلام قرآن کې فرمايي:

(قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ) (سورة النمل: ٦٩)

د ځمکې سَير او سياحت، د ملکونو ليدل کتل، د دنيا لټول د لويو خلکو يو لوی او ستر کار دی. څومره نوي مالومات، نوې څرګندونې او نوې پلټنې چې د ګرځېدو او سياحت په پايله کښې لاس ته راځي، په بل صورت کښې لاس ته نشي راتلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دنیا لویو خلکو او سترو پوهانو تل په ګرځېدو او د ځمکې پر مخ په لټون، عمر تېر کړی دی او ډېر غوره مالومات او آثار يې موندلي او ډېرې پټې خزانې يې را برڅېره کړي دي. نوې ځمکې يې موندلي دي او د بني آدم د پوهې او علم د زياتېدو لپاره يې د حساب وړ خدمتونه کړي دي.

د مثال په توګه، له یونانه د مورخینو پلار هېروډوت، تقریبا په (۴۰۰ مخکې له .م) کښې د آسیا له مهمو برخو څخه لیدنه وکړه او ډېر تاریخي او جغرافیایي مالومات يې راټول کړل. تر ده وروسته (بطلیموس) هم یو نومیالی سیاح او سیلاني تېر شوی دی.

په اوومه عیسوي پېړۍ کښې (هیوان تسانګ)، یو مشهور چیني سیاح و چې په منځنۍ آسیا او هند کښې يې څو کاله په ګرځېدو او سیاحت تېر کړل، په پای کې يې خورا ډېر مالومات راټول کړل او راتلونکو خلکو ته يې ارمغانونه پرېښودل.

په مسلمانانو کښې هم سیاحین او ګرځنده خلک تېر شوي دي چې تر ټولو مشهور کس ( ابوعبدالله محمد بن عبدالله بن محمد بن ابراهیم لَوّاتی طَنْجی) معروف په ( ابن بطوطه) دی. نوموړی د مراکش په طنجه ښار کې زېږېدلی دی. ابن بطوطه خپل سفر په ۷۲۵ ق. د مکې په لور پیل کړ او په دې سره مصر، شام، فلسطین، حجاز، عراق، خراسان، ایران، یمن، بحرین، ترکستان، بین النهرین او د هند ځینو برخو ته، چین، جاوه، د اروپا ختیځ، د افریقا ختیځ ته، د سفر کولو په پایله کې بلآخره د مراکش مغرب کې شاه ابو عنان فارس (د بني مریم له شاهانو څخه) ته ورغلو.

د ابن بطوطه (رح) سفرونو ۲۷ کاله ( ۱۳۲۵ – ۱۳۵۲ م) دوام وکړ او په پای کې، په ۷۷۹ ق. / ۱۳۷۷ م. کې ومړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابن بطوطه تقريبا د مارکو پولو هم عصر و، خو د مارکو پولو درې برابره يې سفر کړی دی (۱۱۷۵۰۰ کيلومتره). ابن بطوطه د بشري تاريخ تر ټولو لوی ګرځندوی پېژندل کيږي.
ابن بطوطه (رح) د خپلو سفرونو په پای کې يو لوی تاريخ هم ليکلی چې په عربي کښې يو مشهور تاريخ دی.
اسلامي عالمانو د دې امر مطابق چه (اطلب العلم و لو کان باالصين) په علم پسې د ځمکې مخ لټولی او لرې لرې سفرونه يې کړي دي. په ځانګړې توګه ځومره سياحتونه يې چې د احاديثو د لټولو او صحيح کولو لپاره کړي دي؛ له هغو څخه د تاريخ کتابونه ډک دي.
په اروپا کې سَير او سياحت له ډېرو لاسته راوړنو او کشفياتو سره مل و چې پيل يې له پرتګال څخه وشو. په څوارلسمه عيسوي پېړۍ کښې (کريستف کلمب) د سمندر په سياحت ووت، په يوه وړه کښتۍ کښې کېناست او د سمندر لويو څپو ته يې ځان وسپاره ده غوښتل چه هندوستان ته لاړ شي، لاکن نوې دنيا ته ووت او د امريکې ځمکه يې کشف کړه چې نن د مدنيت يو روښانه مرکز دی. اروپايانو چې د سَير او سياحت ګټې ولېدلې، لکه د ميږيو په څېر ټول په دنيا را خپاره شول، په دې سلسله کښې پرتګاليانو، هسپانويانو، انګريزانو، فرانسويانو، جرمنيانو او نورو په وچه، لنده او هوا کښې ډېر سياحتونه وکړل، ډېرې ځمکې يې ومونډې، د سکندر ظلمونو ته ورسېدل، په (ارض تسعين) يې خپل بيرغونه ودرول، په شمالي او سويلي قطبونو کښې وګرځېدل، د همالیې آسمان ښکلوونکو څوکو ته وختل، د پامير لوړې ځمکې او د کوه قاف (البرز) په سر يې د نوح (ع) د کښتۍ درې ومونډې، د افريقا اوئې صحراګانې يې د پښو لاندې کړې، په اوبو کښې د سمندر تلونو ته کوز شول، په هوا کښې دېرش زره فوټه پورته وختل، د ځمکې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ ترې کوم پټ ځای پاتې نشو. د دې ګرځېدنو په برکت علم پرمختګ وکړ، د انسان دماغ حيرت ناکې کارنامې وښودلې، د ګرځېدو او سياحت شوق نوې اختراع ګانې منځته را وويستلې، الوتکې، سمندري جهازونه، د ګرځېدو او تګ راتګ ډول ډول وسيلې جوړې شوې. دا ټول شيان د دې لپاره ساز شول چې نور هم انسان په دنيا کښې ښه وګرځي، ښه سياحت او ښه پلټنه وکړي او د قدرت اسرار ځانته مالوم کړي. په اصل کښې اروپايانو په (قل سيرو فی الارض) باندې پوره عمل کړی او لا ورپسې لګيا دي. اوس يې سپوږمۍ ته سياحتونه پيل کړي او هره ورځ اورو او وينو چې څه پرمختګونه چې نه کوي. خلاصه دا چې، سَير او سياحت، ګرځېدل را ګرځېدل د علم د زياتېدو، د تجربې پيدا کېدو او د مالوماتو د ډېرېدو يوه لويه ذريعه او د پرمختګ يوه پخه لاره ده.

په دې هکله شاعر څه ښه ويلي.

په کيسو مطلب موند نشې پسې پاڅه - له ګفتاره چا کردار موندلی نه دی.

## د سفر د پيل ځرنګوالی

دا سفر د ۱۴۰۲ لمريز کال، د سلواغې مياشتې په ۸ نېټه، د يک شنبې په ورځ باندې، د دوو ورځو لپاره ترسره شو.

لومړی، يوه ورځ د مخه د شنبې په ورځ مو ياد ښار ته د يک شنبې ورځې د ۱۱ بجو لپاره د بس ټکټ وکړ او د هر ټکټ بيه (۲۱۵۰۰۰ تومان معادل ۲۸۰ افغانۍ) و. د ټکټ اخيستلو سره سم، د سفر د لا ښه مديريت او همغږۍ په پار مې د واټساپ يو ګروپ جوړ کړ، د واټساپ د ګروپ نوم (Shiraz Tour) و. د دې ګروپ د رامنځته کېدو هدف، د سفر په اړه د ټولو اطلاعاتو شريکول او همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سفر په اوږدو کې د هر ډول خاطراتو، انځورونو او د سفر اړوند مالوماتو د لېږد او رالېږد و.

دا چې ما اعجازالحق محرابي د سفر د مدیریت مسؤلیت په غاړه درلود، خپله لږ شوخ یم، د سفر په اوږدو کې مې له خپلو ملګرو څخه په هره مرحله کې ویډیو ضبطوله او همدارنګه مخکې له دې چې سفر پیل شي، خپلو ملګرو ته مې د واټساپ د ګروپ له طریقه ځینې سپارښتنې وکړې، دا سپارښتنې په لاندې توګه دي.

- له ځان سره حتما یو کوچنی بکس، یو جوړ منظم پتلون (کوټ شلوار)، شامپو، د غاښونو بُرس، یو جوړ افغاني کالي، یوه پیاله او خپل د چای کوچني ترموزونه ولرئ.

**د سفر ورځ، یک شنبې، د سلواغې میاشتې ۸ نېټه**

د ګهیځ ۴۰ : ۵ وې چې له خوبه را ویښ شوم، د سهار لمونځ مې وکړ، وروسته له لمانځه څخه خوب رانغلو او همداسې سرګردانه یوې بلې خواته ګرځېدم، لکه څه چې را څخه ورک وي. ساعت اووه بجې شوې، د اتاق ملګرو ته مې د سهار چای تیار کړ، رښتیا په همدې ورځ مو یو مېلمه هم درلود، هغه زما د هم اتاقي جلال الدین محمدي زوم، عبدالحمید محمدي و. ملګرو هم تعجب وکړ چې نن ولې دومره وخته چای تیار شوی، نو ما ورته وویل، چې نن ورځ ځانګړې ده.

د چای څخه وروسته، په بېړې سره حمام ته لاړم، حمام مې وکړ او د سفر لپاره مې د سپارښتنو سره سم خپل تیاری ونیود، کله چې مې تیاری ونیود نو په همدې وخت ساعت ۹ او ۴۵ دقیقې وې، د واټساپ په ګروپ کې مې ملګرو ته پیام وکړ چې لسو بجو ته حتما تیار واوسئ ترڅو اډې (ترمینال) ته لاړ شو، په

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدې وخت کې و چې ټول ملګري د وعدې سره سم تيار شول، مګر زمونږ يو ملګرى چې زما قدرمن استاد هم تېر شوى (استاد عبيد الله غزنوي) د خپل پوهنتون کار لپاره، د ژبې او ادبياتو پوهنځي ته تللى و او هلته يې د راتلونکي سمستر د انګليسي مضمون په اړه پوښتنه کوله، نو دا وخت و چې زه ورته ډېر په غوسه وم دا ځکه چې تر اډې (ترمينال) چې د کاوه اډې (ترمينال) په نوم ده، نږدې يو ساعت په مترو کې لاره وه او دا وخت ساعت ۱۰ بجې وې چې قدرمن استاد نه و راغلى او زمونږ سره نه و يوځاى شوى، نو ما دا فکر وکړ چې استاد حتما نه غواړي شيراز ته لاړ شي، او بايد زه يې مخکې خبر کړى واى. نو د سوچ او فکر خلاف، استاد په ټيلفوني اړيکه کې راته وويل: چې تاسو د اډې په لور لاړ شئ؛ زه ستاسو تر شا درځم. له دې اړيکې وروسته مونږ څلورو ملګرو له استاد څخه په ناهيلۍ د مترو په واسطه د اډې په لور حرکت وکړ، په لاره کې مو د استاد په اړه يو څه غيبت هم وکړ، بلاخره وروسته له نږدې يو ساعت مزل څخه، ادې (ترمينال) ته ورسېدو، د رسېدو سره سم، استاد راته زنګ وکړ او ويې ويل: چېرته ياست زه همدا اوس غواړم ستاسو خواته يانې اډې ته حرکت وکړم، نو همدا ځاى و چې په ډېره غوسه سره مې استاد ته وويل: " ښاغلى استاده! تر دې ځايه نږدې يو ساعت لاره ده او مونږ هم همدا اوس د حرکت په حال کې يوو"، استاد وويل: "څنګه وکړم چاره راته وايه"، بيا په همدې وخت کې زما ملګري امين الله کوهي وويل: " صبر صبر، زه له موټروان څخه پوښتنه وکړم" چې آيا له دې ځايه د صفه اډې ( ترمينال) ته ځي او کنه؟ ( اصفهان ولايت دوه اډې (ترميناله) لري، د صفه او کاوه په نومونو)، د صفه په نوم اډه ( ترمينال) د اصفهان پوهنتون سره ډېر نږدې موقعيت لري او د کاوه په نوم اډه د پوهنتون څخه نږدې يو ساعت د مترو په واسطه لرې فاصله کې موقعيت لري). نو موټروان

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځواب راکړ، هو! له دې ځایه (کاوه) څخه لمړی صفه اډې ته ځو بیا وروسته له هغې ځایه د شیراز په طرف حرکت کوو دا ځکه چې د شیراز ښار مسیر د صفه د اډې په لاره پروت دی. همدا ځای و چې ډېر خوشاله شوم او استاد ته مې وویل: " چې په چټکۍ سره همدغه اډې (صفه) ته درځه، مونږ هم در روان شوو"؛ وروسته له یو ساعت مزل څخه په بس موټر کې، د کاوه اډې څخه د صفه په نوم اډې ته ورسېدو او هلته استاد غزنوي هم زمونږ سره یوځای شو او د شیراز په لور مو سفر پیل کړ.

د سفر په اوږدو کې په موټر کې هم څنګ تر څنګ سره ناست وو، په خپلو منځو کې مو د لارې په جریان کې د ودانیو، ځنګلونو، خلکو او نورو موضوعاتو په هکله خبرې اترې سره کولې او همدارنګه د واټساپ په ګروپ کې مو د حضرت سعدي او حافظ د شعرونو او آثارو په هکله هم یو بل ته مالومات سره لېږل؛ د لارې په اوږدو کې مو یوازې په ۲ بجو، د ډوډۍ او لمونځ لپاره وقفه وکړه. بلاخره د ماښام په ٦ بجو د فارس ولایت مرکز شیراز ښار ته ورسېدو او د ښار لومړۍ ښکلا د (قرآن) د دروازې وه چې ومو لیدله، د بریښنا په رنګارنګو رڼاګانو باندې پوښلې وه، لږ مخکې د کاراندیش اډې (ترمینال) ته ورسېدو، موټروان غږ وکړ: "مقصد ته ورسېدو، ښه راغلاست"، مهرباني وکړئ ښکته شئ!.

کله چې د موټر څخه ښکته شوو، نو هک حیران په میدان پاتې شوو او په دې وخت کې د اډې د ټکسي موټر چلوونکو څخه نه خلاصیدو، داسې یو حالت شو لکه د کارګرو په فلکه چې څوک ورشي او غواړي کارګر له ځان سره بوځي، نو پر مونږ باندې هم د ټکسي د موټر چلوونکو یو ډله راټول شول او په دې خبرو یې پیل وکړ، ښه راغلاست، چېرته ځئ لخیره، ټکسي مو په چوپړ کې ده، نو دا چې په واقعیت هم زمونږ ځای مالوم نه و، نو ورته ومو وویل چې مننه مونږ پسې څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library


راغلي او حقیقت دا و چې مونږ په یاد ښار کې هیڅ څوک نه پېژندل، دا کار مو یوازې د ټکسي موټر چلوونکو څخه د ځان د خلاصون لپاره وکړ او همداسې په پښو د اډې خروجي لور ته روان شوو، په دې وخت کې زمونږ یوه ملګري وویل: "چې ای کاش!، اوس مو څوک پېژندلای او راته راغلي وای او ورسره کور ته تللي وای"، ما ورته وویل: "تل داسې نه وي". له اډې څخه بهر شوو او له خلکو څخه په پرله پسې پوښتنو سره مو په پای کې، اډې ته نږدې د (مهمان پذیر پردیس ) په نامه هوټل پیدا کړ او هلته لاړو. له لومړنیو پوښتنو او نوم لیکنې څخه وروسته مو یو اتاق د شپې په (۵۰۰ تومنه معادل ۶۵۰ افغانۍ ) کرایه کړ.
هوټل د امکاناتو له اړخه ښه و، اتاق یې درې کټه درلودل، بخارۍ او په منځ کې یې یو تشناب او ورسره حمام هم و، پخلنځی یې په عمومي دهلیز کې موقعیت درلود.

د ډوډۍ وخت شو، زه، ښاغلی شکرالله محمودي او امین الله کوهي د ډوډۍ تیارولو لپاره بهر ته لاړو، کوهي نانوايي ته لاړ، زه او محمودي یو لوی خوراکي دوکان ته لاړو او هلته مو د شپې د ډوډۍ لپاره آماده لوبیا او ورسره میوه او شیریني باب واخیستل، کله چې اتاق ته راغلو نو آماده لوبیا مو لږ نوره هم جوړه کړه. غوړ، آماده لواب مو ورته اضافه کړل او ډوډۍ مو تیاره کړه، په ګډه سره مو ډوډۍ نوش جان کړله، وروسته له ډوډۍ مو چای وڅښل او له ملګرو سره مو غوږې وکړې. د ملګرو له ډلې، د آصف الله آرین په نامه وویل: "واقعا ډېر ښه وخت راغلو ځکه چې نن شپه آرام وکړو او سبا به لخیره خپلو لیدو کتو ته مخه کړو"، تر دې وروسته، همداسې شپه شوه او ویده شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی ورځ:** سهار لمانځه ته را پا څېدو، له لمانځه څخه وروسته مو هم یوه سترگه خوب وکړ، په اتو بجو محمودي او کوهي د سهار چای تیار کړ. د چای څخه وروسته مو ځانونه آماده کړل او لخیره د سَیر په طرف له هوټله بهر شو او د هوتل د مخه مو د سفر د لومړني مقصد (حضرت حافظ روضې ) پر لور، دوه آنلاین ټکسیانې د (اسنپ په نوم) ونیولې، دا چې دغه ښاري ټکسیانې له څلورو څخه زیات کسان نه سپروي او مونږ پنځه کسه وو، نو مجبورا دوه آنلاین ښاري ټکسیانې مو ونیولې او د کسانو وېش مو داسې وکړ چې استاد غزنوي او آرین په یوه ټکسي کې او زه، کوهي او محمودي په بله ټکسي کې وو او په ټول سفر کې یانې په دوو ورځو کې همدا کسان به سره په ټکسیانو کې له یوه ځایه څخه بل ځای ته تللو.

د حضرت حافظ روضه: کله چې یاد ځای ته ورسېدو نو په دروازه کې د امنیتي محافظینو لخوا له لومړنیو پوښتنو څخه وروسته، د ننوتلو لپاره ایراني ټکټونه راکړل شول. (ایراني ټکټونه ځکه چې ویې لیدل مونږ ډېر ډیپلوماټیک کالي اغوستي او د اصفهان پوهنتون زده کوونکي یوو) د هر ایراني ټکټ بیه (۵ تومنه معادل ۷ افغانۍ) وه؛ حال دا چې د غیر ایراني گرځندویانو لپاره د ټکټونو بیې لوړې وې.

د ټکټونو اخیستلو وروسته، د حافظ روضې ته ننوتلو او په لیدو کتو  او د نصب شویو لوحو په ویلو مو پیل وکړ، ترڅو چې اصلي قبر ته ورسېدو؛ لومړی مو نوموړي شخصیت ته د مغفرت دعا وکړه ورپسې په زیارت کې په گرځېدو وو چې شاو خوا مو ولیدل په سلگونه کسان تلل او راتلل، ما هم د همدې فرصت څخه په استفادې سره د همدې حال او هوا څخه ویډیو ضبطوله، د ضبط پر وخت، د

(c) ketabton.com: The Digital Library


روضې يو امنيتې ساتونکی راغی او ماته يې تذکر راکړ، چې د امنيتي مواردو په پار، د ويډيو ضبطولو اجازه نلرئ، ما ورته وويل سمه ده، خو بيا مې هم پټ پټ ويډيو کوله ځکه فضا او محيط ډېر ښکلي او په زړه پورې وو.

## حضرت حافظ (رح) څوک دی؟!

خواجه شمسُ‌الدّينْ محمّدِ بن بهاءُالدّينْ محمّدْ حافظِ شيرازي، مشهور (متخلص) په "حافظ"، د فارسي ژبې د اتمې هجري پېړۍ، لوی غزل ويونکی شاعر او اديب شخصيت دی.

نوموړی په ۷۲۷ هجري قمري کال په شيراز ښار کې دې نړۍ ته سترګې پرانيستلې.

حافظ خپلې لومړنۍ زده کړې په شيراز ښار کې د خپل وخت او ځای له عالمانو څخه لاسته راوړې او د وخت په ادبي علومو کې يې لوړ ځای خپل کړی و.

حضرت حافظ (رح) ته ځکه حافظ وايي، چې نوموړی د قرآنکريم حافظ و.

حضرت حافظ يوازې يو ځل واده کړی دی او له هغه څخه يې يو زوی درلود چې هغه هم په ځواني کې له نوموړي سره د هند په لور په يو نابشپړ شوي سفر کې، وفات شوی و.

د حافظ (رح ) له مشهورو آثارو څخه "ديوان حافظ" د يادولو وړ دی؛ دا ديوان په خپل ځان کې ۵۰۰ غزله، ۴۲ رباعي او څو قصيدې لري چې د ۵۰ کلونو په اوږدو کې يې ويلې دي.

د حافظ ډېرَی شعرونه، د غزل په بڼه دي.

د حافظ فال، د ايرانيانو لپاره يو له مهمو او اړينو فالونو څخه دی. نن ورځ د ټولو ايرانيانو په کورونو کې د "حافظ فال" په نامه کتاب ليدل کيږي او ايرانيان د

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپل کلتور او سُنت مطابق په خپلو ملي، مذهبي او آن د نوروز او د یلدا په شپو د "حافظ فال" په کتاب باندې، خپل فالونه ګوري.

همدارنګه حضرت حافظ د لِسانُ‌الْغِیْب، تَرجُمانُ الْاَسرار، لِسانُ‌الْعُرَفا او ناظِمُ‌الاُولیاء په لقبونو هم نومول شوی دی.

**لسان الغیب په څه مانا؟!**

لسان الغیب عربي ریښه لري، چې لسان د ژبې په مانا او الغیب د پټ او نامعلوم په مانا.

حافظ شیرازي ته ځکه لسان الغیب وایي، کله چې نوموړی ومړ نو د نوموړي د وفات پر ورځ د خلکو ترمنځ د حافظ د خښولو پر سر لانجه راغله، دا ځکه چې خلکو حافظ د خپلو افکارو او لیدلوري له اړخه، بې دینه پېژندلو، نو په لومړي کې یې اجازه ورنکړه چې نوموړی په یاد ښار کې خښ کړي چې په دې سزه د عامو خلکو، فرهنګیانو او ادیبانو ترمنځ لانجه راغله، په دې وخت کې یو کس وویل چې راځئ د همدې موضوع د روښانتیا لپاره د حافظ له خپل کتاب څخه فال وګورو او معلومه به شي چې نوموړی څنګه یو شخصیت دی، نو پرېکړه وشوه سمه ده، په همدې وخت کې و چې د حافظ د شعرونو کتاب یې راوړو او یو ماشوم ته یې ورکړو ترڅو ورڅخه یو غزل وټاکي، کله چې ماشوم د فال لیدلو په هدف غزل وټاکه، نو لاندې د مانا او مفهوم څخه ډک غزل یې په فال کې راوخوت چې وایي.

عیب رندان مکن ای زاهد پاکیزه سرشت

که گناه دگران بر تو نخواهند نوشت

من اگر نیکم و گر بد تو برو خود را باش

(c) ketabton.com: The Digital Library


هرکس آن درود عاقبت کار که کشت
همه کس طالب یارند چه هشیار و چه مست
همه جا خانه عشق است چه مسجد چه کنشت

**د پورتني فال تفسیر:** د نورو خلکو د عیب پلټنه ډېر ناوړه کار دی. هرڅوک د خپلو اعمالو مسؤل دی. د انسانانو د ظاهر څخه نشو کولای د هغوی باطن وپېژنو او هیڅوک د چا له باطن څخه خبر نه دي. سمه ده چې ټول انسانان جایزالخطا دي، خو عاقل انسان د نورو له خطاوو څخه درس اخلي او هغه نه تکراروي، او ته هم د نورو له تجربو څخه ګټوره استفاده وکړه.

د پورتني غزل په لیدلو سره خلک حیران پاتې شول او په پای کې د نوموړي شخصیت جنازه ترسره او خاورو ته وسپارل شوه او د همدغې کیسې وروسته نوموړي ته د لسان الغیب لقب، ورکړل شو.

د یادولو وړ ده چې هر ځومره زیات د حضرت حافظ (رح) په هکله ووایم کمه ده، نو په همدې به بسنه وکړم.

نوموړی شخصیت، په ۷۹۲ هجری قمري کال د شیراز په ښار کې ومړ او هلته د حافظیه په سیمه کې خاورو ته وسپارل شو.

کله چې د حضرت حافظ د روضې لیدل کتل پای ته ورسېدل، نو د برنامې سره سم مو دوه آنلاین ښاري ټکسیانې ونیولې او د حضرت سعدي (رح) د روضې پر لور ولاړو، کله چې هلته ورسېدو نو که مبالغه ونه کړم یوه بله عجیبه د محبت، په زړه پورې او د ښو انسانانو څخه ډکه فضا وه.

یو څه چې زه یې ډېر حیران کړم، هغه د حضرت سعدي او حافظ په زیارتونو کې د ډېرو ښو انسانانو شتون و، دا انسانان نه یوازې د ایران څخه بلکې د ټولې نړۍ څخه راتلل، ترڅو د دې لویو شخصیتونو د روضو لیدنه وکړي. سبحان الله، الله

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاک د تاریخ یادو دوو لویو شخصیتونو ته عجیبه عزت ورکړی دی، الله پاک دې مونږ او تاسو ټولو ته د حضرت سعدي او حافظ او داسو نورو ورته شخصیتونو استعداد او وړتیا را په برخه کړي، الهم آمین.

## حضرت سعدي (رح) څوک دی؟!

ابو محمد مشرف الدین مصلح بن مشرف، مشهور (متخلص) په "سعدي" د فارسي ژبې د اوومې هجري پېړۍ، لوی شاعر او لیکوال شخصیت دی.

نوموړی د اټکل له مخې په ٦٠٦ هجري قمري کې (د ۵۸۹ لمریز کال او ۱۲۱۰ م مطابق) په شیراز ښار کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستلې.

د یادولو وړ ده چې ځینې د نظر خاوندان، د نوموړي د زوکړې نېټه، ۵۸۵ هـ.ق په ګوته کوي.

د سعدي کلمه، د اتابک مظفرالدین سعد بن ابوبکر بن سعد بن زنګي له زامنو څخه راخیستل شوې، کلمه ده.

نوموړي لوی شاعر او شخصیت ته د خبرو استاد، د خبرو پادشاه او د شیخ اجل په نومونو القاب هم ورکړل شوي دي.

حضرت سعدي (رح) پرته له کومې مبالغې څخه، د فارسي ژبې د پنځو لومړیو لویو شاعرانو څخه شمېرل کیږي. دا پنځه لوی او با وقاره شاعران دا دي:

حضرت مولانا جلال الدین محمد بلخي

حکیم ابوالقاسم فردوسي

خیام نیشاپوري

حضرت سعدي شیرازي

حضرت حافظ شیرازي

(c) ketabton.com: The Digital Library


حضرت سعدي په ځواني کې د بغداد نظاميه مدرسې ته لاړ او هلته يې د ادب، تفسير، فقه، کلام او حکمت زده کړې وکړې.
د سعدي له لويو او د حساب وړ آثارو څخه بوستان (نظم) او گلستان (نثر) يادولای شو.
سعدي نامه يا بوستان، د سعدي لومړنی اثر دی چې په ٦٥٥ هجري قمري کې د نظم يا شعر په بڼه ليکل شوی او همدارنگه يو کال وروسته يانې په ٦٥٦ هـ.ق کې يې گلستان د نثر په بڼه ليکلی دی. سربېره پردې په عربي ژبه باندې هم ډېر د حساب وړ قصايد، غزلونه، قطعې، ترجيح بند، رباعيات او مقالې لري.
حضرت سعدي، نږدې ٧٠٠ غزله لري چې د بحث محور يې، مينه دی.
د يادولو وړ ده چې هر څومره زيات د حضرت سعدي (رح) په هکله ووايم کمه ده، نو په همدې به بسنه وکړم.
نوموړی شخصيت د ٦٩٠ تر ٦٩۴ کلونو په اوږدو کې په شيراز ښار کې وفات شوی او د ياد ښار په سعديه سيمه کې خاورو ته سپارل شوی.
کله مو چې د حضرت سعدي (رح) له روضې څخه ليدنه وکړه، نو د برنامې سره سم د شيراز ښار مرکز، د کريم خان زند ارگ ته لاړو. مخکې له دې چې د کريم خان زند ارگ ته ننوځو نو د ارگ مخامخ، د ذهن د ستړيا د لمنځه وړلو لپاره مو د ملگرو سره په گډه يو يو آيسکريم (بستني) نوش جان کړ، وروسته له هغه د کريم خان زند ارگ ته لاړو، د اصولو سره سم د ننوتلو لپاره مو ايراني ټکټونه وکړل، چې د هر نفر ټکټ بيه (۵ تومنه معادل ٧ افغانۍ) و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## زندیه حکومت

زندیان یا زندیه (۱۱۲۹ - ۱۱۷۴ هـ.ش) په ایران کې حاکمه یوه طایفه وه چې د افشاري حکومت له نړېدو څخه وروسته او مخکې د قاجار له حکومت څخه، د ایران هېواد په ځمکه یې د ۴٦ کلونو په موده حکومت وکړ او د شیراز ښار یې د حکومت پلازمېنه وه.

یاد خاندان، د کریم خان زند په مشري، په ۱۱٦۳ هجري قمري کال په ایران کې قدرت ته ورسېده.

کریم خان زند د ایران د لُر له قوم څخه و. نوموړی په لومړیو کې د نادر افشار له عساکرو څخه و.

کریم خان قدرت ته د رسېدو سره سم، د شاه له نوم څخه تېر شو او خپل ځان ته یې د وکیل الرعایا لقب ورکړ.

**د کریم خان زند د ارگ ظاهري حالت!**

کله چې یاد ارگ ته ننوتلو، د ارگ ظاهري حالت خورا گډوډ او بې نظم و. نظافت ته یې ډېره توجه نه کیدله، ودانیز حالت یې هم وران او ویجاړ مالومېده او همدارنگه د خلکو تعداد هم دومره نه و چې ورڅخه تعریف وکړم. له دې حالت څخه ما دا برداشت وکړ چې ممکن دا کس او یا هم د یاد کس حکومت دومره د تعریف وړ نه و چې یې قدر وشي، یوازې د تاریخي اثر په توگه یې یاد ارگ په سطحي توگه ساتلی ترڅو خلک ورڅخه لیدنه وکړي، ترڅو د یاد شخص د حکومت په اړه پوه شي او د ځان لپاره یې د الگو په توگه وگرځوي، حال دا چې هغه عظمت او لویي چې د سعدي او حافظ له روضو سره وو، هېڅ هم له دې ځای سره د پرتلې وړ نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د يادولو وړ ده چې د يادې طايفې په اړه همدومره مالومات بسنه کوي، د نورو مالومات لپاره کولای شئ تاريخي کتابونو ته کتنه وکړئ.
د لومړۍ ورځ وروستۍ کتنه د شاه چراغ له روضې څخه وه. کله مو چې د وکيل خان زند له ارگ څخه ليدنه پای ته ورسېده، د پلان سره سم مو دوه آنلاين ښاري ټکسيانې ونيولې او د شيراز ښار يوې څنډې، د شاه چراغ روضې ته ورغلو.
کله چې يادې روضې ته ورغلو، لومړۍ خو دا چې که مبالغه ونه کړم، ياد زيارت نږدې لس جريبه ځمکه ځای نيولی و. د ننوتو سره سم پکې کوم مذهبي مراسم روان و، ډېر خلک يادې روضې ته تلل او راتلل او همدارنگه کلک امنيتي تدابير هم نيول شوي وو.
کله چې يادې روضې ته ننوتلو، لومړۍ د قبر ځای ته ور ننوتلو، ياد شخصيت ته مو د مغفرت دعا وکړه او ليدو کتو ته مو دوام ورکړ. کله مو چې د قبر څخه ليدنه پای ته ورسېده، د قبر له ځايه را بهر شو او د روضې د محوطې په منځ کې، يوه اړخ ته د شاه چراغ په نامه يو موزيم و، هغه ته ورغلو، لومړی مو دننوتلو ټکټ (۱۰ تومنه معادل ۱۳ افغانۍ) وکړ. دا موزيم دوه منزله و، لومړی مو د دوهم منزل څخه ليدنه وکړه، په ياد منزل کې ټول تاريخي ليکنې وې، له دې ډلې څخه ډېرَی د قرآن کريمونو لاسي ليکل شوې نسخې وې. ورپسې لومړي منزل ته راښکته شوو، په ياد منزل کې بيا ډېر پخواني تاريخي آثار وو، لکه: د طلا دروازه، پخوانۍ وسلې، سکې، د مختلفو هېوادونو د پيسو ډولونه، شهاب تېږې، د هېواد په کچه د لويو اتلوليو جايزې، مډالونه، د پخواني وخت زيورات او همدارنگه په ياد زيارت باندې د تېر کال د حملې ځينې پاته شوي آثار هم اېښودل شوي وو.
وروسته له موزيم څخه، د روضې يوې څنډې ته لاړو او هلته د کتابونو، او ډاليو يو دکان و، د ملگرو سره په مشوره هلته ورغلو او يو څه پېر مو وکړ. زمونږ د پېر له

(c) ketabton.com: The Digital Library


مهمو څيزونو څخه د سعدي بوستان، ګلستان او همداسې خپلو ملګرو لپاره نورې ډالۍ، چې له دې جملې څخه به د يوې ډالۍ يادونه وکړم، هغه دا چې ما خپل يوه نږدې او خوږ ملګري جلال الدين "محمدي" ته يو جوړ تسبيح ډالۍ واخيستلې، ځکه نوموړی ډېر ذکر کوي. الله (جل جلاله ) دې نوموړي ته لا ډېر توفيق ورکړي او همدارنګه نورو ملګرو هم له دې ځايه ډېر پېر وکړو.
ورځ ورو ورو په ختمېدو وله، د مازديګر وخت و چې د همدې کتابتون او پلورنځي ترځنګ لوی صف ودريدلو، نو مونږ هم حيران شو چې څه خبره ده، پوښتنه مو وکړه، نو فکر کوم هغه کس راته وويل چې نذر (خيرات) دی او سوپ ورکوي. مونږ ته هم دې صف يو ډول ښه احساس راکړ نو ټول ملګري په صف کې ودريدلو او له څنډ وروسته مو سوپ ترلاسه کړ، که مبالغه ونه کړم بل ډول ښه خوند يې وکړ. سوپ مو چې نوش جان کړ، ساعت ته مو چې وکتل، د ماښام لمانځه ته نږدې ۲۵ دقيقې پاتې وې او ملګري هم د ډېرو ګرځېدلو او سياحت په پايله کې ستړي برېښېدل، مشوره مو وکړه چې ځو لخيره د اتاق په لور (مهمان پذير پرديس) هوټل ته. دا ځل، کله مو چې دوه آنلاين ښاري ټکسيانې په انټرنت کې وپلټې، نو پيدا نشوې او مجبوره شو په يوه آنلاين ښاري ټکسي (اسنپ) کې لاړ شو، بلاخره په يوه ټکسي کې مو په ډېر سختې سره ځان ځای کړ او لاړو خپل د استوګنې په لور. کله چې هلته ورسيدو، لومړی مو د ماښام لمونځ وکړ، وروسته له لمانځه مو چای وڅکلو او ورپسې د تېرې شپې په څېر، کوهي لاړ نانوايي ته د ډوډۍ راوړلو لپاره، زه او محمودي لاړو د ماخوستن د ديګ لپاره د سودا اخيستلو پر لور. استاد غزنوي او ښاغلی آرين ته مو وويل: تاسو په مونږ کې مشران ياست، کرار کښېنئ او آرام وکړئ؛ که څه هم دوی دواړو ډېر ټينګار وکړو چې د سودا او ډوډۍ اخيستلو پسې لاړ شي؛ خو مونږ د اخلاقي اصولو له مخې،

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا اجازه ور نکړه او مونږ درې سره لاړو د ماخوستن ډوډۍ لپاره مو سودا راوړه. د دوهمې شپې ډوډۍ یو څه ځانګړې وه دا ځکه چې د ورځې په اوږدو کې مو د ډوډۍ خوړلو فرصت پیدا نکړ نو ملګرو وویل، چې باید یو ښه مناسب څه واخلو ترڅو د غرمې خالیګاه هم پکې ډکه شي، نو د همدې خبرې په پار مو، ستاسو په اجازه، آماده سور کړی چرګ، بال کتف، هګۍ (د جوشولو لپاره) او نوشابه واخیستل. د دې شپې له جالبو صحنو څخه راته د جوش کړو هګیو جنګول ول، سبحان الله، څومره ډېر مو سره وخندل، الله تعالی دې مونږ ته هدایت وکړي.
وروسته له دې چې ډوډۍ مو وخوړله او ورپسې مو چای وڅښل، بیا مو نو د تېرې کړې ورځې انځورونه، خاطراتو، او پېښو په هکله غورې او بانډار وکړو، د دې ټولو څخه وروسته، ویده شوو.

**دویمه ورځ:** د دویمې ورځې سَیر او سیاحت، کله مو چې په ۹ بجو د سهار چای وڅښلو، نو د برنامې سره سم، د تخت جمشید پر لور مو دوه آنلاین ښاري ټکسیانې (اسنپ) ونیولې او حرکت مو وکړ.

## تخت جمشید؟!

تخت جمشید د فارس ولایت (شیراز ښار) په مرودشت ولسوالۍ کې د غره لمنې کې پروت لوی په تېږو سینګار شوی تاریخي قصر دی او د شیراز ښار څخه نږدې ۵۷ کیلومتره لرې فاصله کې پروت دی. د تخت جمشید ودانۍ کار، د هخامنشیانو د دریم پادشاه داریوش، لخوا پیل او په دې ودانۍ کې د وخت بې شمېرو انجنیرانو او د هنر خاوندانو هم نارینه او هم ښځینه، کار کړی.
تخت جمشید د ۱۲۰ کلونو په اوږدو کې جوړ شوی او یو څه چې د دې تخت په اړه ارزښت لرونکي ښودل شوي دي، هغه له کارګرو سره د هخامنشي

(c) ketabton.com: The Digital Library


پادشاهانو ښه رویه او سلوک دي چې وایي د ښه او وړ حقوق سربېره، نور ډېر امتیازات هم کارګرو ته ورکول کېدل (والله اعلم).
دا چې د تخت جمشید کار د ۱۲۰ کلونو په اوږدو کې ترسره شوی، نو د یادولو وړ ده چې یوازې پیل یې د دریم پادشاه داریوش لخوا شوی او همداسې د کلونو په اوږدو کې، نور قصرونه یې د هخامنشیانو د نورو حاکمان لخوا جوړ شوي دي.
تخت جمشید، د پخواني ایران د لویوالي او عظمت له آثارو څخه شمېرل کیږي او د شیراز ښار د لیدو کتو لپاره یو له مشهورو ځایونو څخه دی چې هره ورځ په سلګونه کسان، له یاد ځای څخه د تاریخ د پوهېدو په پار، لیدنه کوي.
همدارنګه د تخت جمشید پاته شوي آثار او ودانۍ، د نړۍ د تاریخ د تمدن له مهمو اسنادو څخه شمېرل کیږي.
تخت جمشید، د هخامنشیانو د سلسلې د ۲۵۰۰ کلونو پخوانی یادګار دی.
تخت جمشید، په نړۍ کې  د ایران هېواد د پارسي تمدن له آثارو څخه شمېرل کیږي او همدارنګه نوموړی ځای په نړۍ کې د (پرسپولیس) په نوم هم پېژندل کیږي.
د تخت جمشید  د محوطې بل نوم  (د پارسه مِلک) دی چې د نړۍ له ګوډ ګوډ څخه ورته هره ورځ په سلګونه ګرځندوی لیدو کتو ته راځي.
د تخت جمشید په منځ کې د مهمو ودانیو (قصرونو) نومونه دا دي:

- د تخت جمشید رسمي او تشریفاتي قصرونه ( د ملل د دروازې قصر)
- د آپادانا قصر ( لوړ عمارت)
- د تچر قصر (لوړ عمارت)
- د هدیش قصر (لوړ عمارت)

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د ملکي قصر (لوړ عمارت)
- د شورا قصر (لوړ عمارت)
- د سلو پایو (ستون) قصر (لوړ عمارت)
- د (ه یا اچ) په نوم قصر (لوړ عمارت)
- د G په نوم قصر (لوړ عمارت)
- د نا بشپړ شوي دروازې ودانۍ
- د شاهي خزانې په نوم ودانۍ
- د دوهم او دریم اردشیر زیارتونه
- او خپله د تخت جمشید قصر (لوړ عمارت)
- د تخت جمشید موزیم

په تخت جمشید کې، پورتنۍ ټولې ودانۍ، د لیدو او کتو ارزښت لري او د هر یوې ودانۍ تر شا لوی تاریخ او داستان پروت دی.

یو څه چې یادونه یې ضرور ګڼم هغه دا چې پورتني ټول ذکر شوي قصرونه اوس موجود نه دي، تاسو یوازې د یادو قصرونو آثار او پاتې شوني حکاکي شوې تیږې او لیکنې کتلای شئ.

همدارنګه هلته یو ډول الکترونیکي عینکې (چشمکې) موجودې وې چې د هغې له طریقه مونږ د قصرونو هغه اصلي بڼه ولیدله.

یادې عینکې(چشمکې) د یوه ساعت لپاره په (۱۰۰ تومنه معادل ۱۳۰ افغانۍ) کرایه کیدلې، مونږ هم د قصرونو د لا ښه لیدو او پوهېدو په پار، د یو ساعت لپاره یادې عینکې، کرایه کړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د یادولو وړ ده چې د تخت جمشید په اړه مالومات خورا ډېر دي، په همدې پورته مالوماتو باندې بسنه کوم، د لا زیاتو مالوماتو لپاره تاریخي کتابونو ته کتنه وکړئ.
زمونږ د سفر دویمه او وروستۍ ورځ په تخت جمشید کې ډېره جالبه او په زړه پورې پای ته ورسېدله، هغه څنګه؟!
کله مو چې د تخت جمشید څخه لیدنه او کتنه وکړه، نو له محوطې سره ترڅنګ، یو هوټل ته ورغلو، د غرمې ډوډۍ مو نږدې په ۴ بجو د ورځې نوش جان کړله او د هوتل ترڅنګ، د شیراز د کلتوري کالیو یو نندارتون هم و، نو د ملګرو په مشوره سره هلته ورغلو، کله چې ورغلو، نو د بیوو او نورو مواردو څخه په خبرېدو او هوکړې سره، د شیراز ښار کلتوري کالي مو پر ځان کړل او خورا ډېر انځورونه مو ورسره واخیستل، که مبالغه ونه کړم، خورا ډېر ساعت مو هم تېر شو، په همدې ځای کې مو له ملګرو سره لکه د پخوانیو شاهانو یو ډله ییز انځور واخیست، وروسته مو چاپ کړ او آصف الله آرین ته مو ډالۍ کړ. ولې مو آرین ته ډالۍ کړ؟!
ځکه په انځور کې آرین لکه د پادشاهانو غوندې په چوکۍ ناست و او مونږ ټول یې شاوخوا ولاړ و، نو مونږ له ځان سره وویل که دا انځور له آرین څخه پرته هرڅوک واخلي، نو هغه ډول عظمت نه لري لکه آرین ته یې چې ورکړو، ځکه آرین پکې د پادشاه په توګه تمثیل کړی، نو راځئ په ګډه سره یې ښاغلي آرین ته ډالۍ کړو. ټولو ملګرو موافقه وکړه، یوازې ښاغلي کوهي مخالفت وکړ، هغه داسې چې نوموړي ته مو تل د ولسمشر په نامه غږ کاوه، ده وویل "نو زما د ولسمشرۍ مقام او حیثیت څه شو؟!"، باید له سره بل داسې یو انځور چاپ کړئ چې زه پکې د پادشاه په توګه واوسم، نه ښاغلی آرین". په پای کې داچې زمونږ سره نور نو وخت او فرصت یاري نه کوله، نو ښاغلي کوهي صاحب ته مو په ډېرې سختۍ سره قناعت ورکړ، نوموړي هم ومنله او انځور مو ښاغلي آرین ته ډالۍ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې وخت کې ساعت د ماښام له لمانځه سره برابر و، مونږ هم د تخت جمشيد د محوطې داخل جومات ته لاړو، هلته مو لمونځ وکړ، وروسته له لمانځه مو دوه آنلاین ښاري ټکسیانې په کرایه کړلې او د شیراز ښار په لور روان شوو، وروسته له نږدې یو ساعت څخه د شیراز ښار ته ورسېدو او له برنامې سره سم مو د اصفهان ښار په لور د بس ټکټونه وکړل. ټکټونه د شپې ۱۱ بجو ته وو، مونږ په ۷ بجو د کاراندیش په ادې (ترمینال) کې وو، تر ۱۱ بجو مو د اډې (ترمینال) په جومات کې تېر کړل او په ۱۱ بجو د بس موټر په لور ورغلو. د بس د موټر له جالبې خاطرو څخه به درته ووایم، چې اصلا به باور و نه کړئ؛ هغه دا چې مونږ بېرته په آنلاین توګه هغه بس موټر کې ځای نیولی و، په کوم کې چې له اصفهان څخه شیراز ته راغلي وو حال دا چې مونږ مخکې د بس تر لیدو نه وو خبر، د موټروان کلینر چې ولیدلو، وویل تاسو هغه نه یاست چې دوه شپې مخکې له مونږ سره راغلئ؟ ما ورته وویل: " واچوه لاس په لاس، هماغه یوو"، ده راته وویل: "ښه راغلاست، پخیر راغلئ"، ما ورته وویل: "ممنون، قوبون چشات برم کاکو" ( یوه ایراني جمله ) مانا: مننه، له سترګو دې ځار شم وروره.
کلینر په ځواب کې راته وویل: "عزیز دل مایی" . ژباړه: زمونږ د زړه سر یې.
د شپې په ۱۱ بجو مو له شیرازه اصفهان لور ته حرکت وکړ او د سهار په ٦ بجو خپل تعلیمي ټاټوبي، اصفهان ښار ته ورسېدو.
**یادونه:** زمونږ د سفر په برنامه کې د شیراز د ډېرو نورو ځایونو د لیدلو برنامه هم وه، خو دا چې وخت زمونږ سره مل نشو نو ډېرَی ځایونه را څخه پاتې شول په ځانګړې توګه یو له مهمو ځایونو څخه چې لیدل کتل یې راڅخه پاتې شول هغه نقش رستم نومېږي چې لاندې یې غواړم تاسو ته لنډ معرفي کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نقش رستم، شیراز؟!

نقش رستم د شیراز ښار د مرودشت ولسوالۍ په زنګي آباد سیمه کې، یوه لویه تاریخي سیمه ده چې د تاریخ د دریو دورو (ایلامیانو، هخامنشیانو او ساسانیانو) د یوې لویې تېرې په ښه یادګار پاته دی.

د دې سیمې لومړنۍ ودانۍ په ۱۹۲۳ م کې کشف شوله چې د ساسانیانو د برجونو او کلاګانو مربوط وه. وروسته له ۱۳ کلونو څخه، په یاد ځای کې د لویو ډبرو لاندې، په تېرو باندې لیکنې او طراحیانې را پیدا او کشف شوې.

د نقش رستم نوم: دا د شاهنامه په کتاب کې د پخوانۍ افسانې یا داستان سره ریښه لري، هغه داسې چې، دا د رستم او اسفندیار د رویا او خیال ځای و او رستم د شاهنامې د داستان اتل، په دې ځای کې په دې بریالی شوی و چې اسفندیار ته ماتې ورکړي.

د نقش رستم په محوطه کې د څلورو هخامنشي پادشاهانو مقبرې شتون لري چې دا عبارت دي له:

د لومړي داریوش قبر (۵۲۲ -۴۸۶ مخکې له میلاد)، د دوهم داریوش قبر (۴۲۴ -۴۰۵ )، د خشایار شاه قبر (۴۸۶ – ۴۴۵ )، د لومړي اردشیر قبر (۴۸۶ – ۴۲۴). دا قبرونه د ځمکې څخه نږدې ۲۶ متره فاصله لري.

دا ځای د نقش رستم په نوم ځکه مشهوره دی چې دلته د هخامنشیانو د څلورو پادشاهانو قبرونه دي. په تېر کې د مړو د ښخولو یو له مروجو طریقو څخه، د غره په زړه کې د هغوی د جسدونو ښخول و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د سفر د رامنځته کېدو مفکوره

د سفر د رامنځته کېدو مفکوره، د بېلابېلو ضرورتونو او خواهشاتو له نظره کېدلای شي، علمي (تحقیقي)، تفریحي، سیاحتي (زیارتي) او فرهنګي واوسي.
تفصیلي بیان، په دې برخه غواړم تاسو ته د سفر د رامنځته کېدو ظاهري حالت بیان کړم.
اصفهان پوهنتون کې د کال د لومړي سمستر آزموینې پای ته ورسېدې، له هر څا ځخه به مې چې پوښتنه کوله نو ډول ډول خبرې به یې راته کولې، چا به ویل ډېر ښه سمستر و، چا به ویل دې سمستر ډېر وځورولم، چا به ویل ښه شو چې خلاص شو هسې په اندېښنه کې وم، چا به ویل ډېر ښه و ځکه چې ښې نمرې مې ترلاسه کړې دي او داسې  ورته نور...
د پورتنیو خبرو د تحلیل او بررسي په  پای کې مې له ځانه سره دا فکر وکړ او په سوچ کې شوم چې نږدې ۱۵ ورځې رخصتي ده او د دې رخصتیو تېرول هم دلته په لیلیه کې په یو وار سره ستونزمنه خبره ده، ځان ته مې په خطاب کې وویل:"ته هم ډېر سترې شوی یې او د دې ستړیا تنده به په څه سره ماته کړې"؛ خو رنګارنګ خبرې او نظرونه مې فکر ته راتاوېدل، لاړ شه تهران ته ښه چکر او تفریح وکړه، همدلته اصفهان کې چکر ووهه، لاړ شه محمود آباد ته هلته نصیر احمد محرابي ته ورشه. ( محمود آباد په اصفهان ولایت کې یوه صنعتي سیمه ده او په همدې وخت کې زما د تره زوی نصیر احمد محرابي هلته د آشپز په توګه دنده ترسره کوله) او ښه باندار ورسره وکړه او داسې نور. ډېر فکرونه مې ذهن ته تلل او راتلل او په خپل ذهن کې ډېر سره بوخت وم، بلاخره مې له ځان سره دا پرېکړه وکړه چې راځه دا ځل یو نوي ځای ته لاړ شه ترڅو نسبت له پخوا څخه جالبه، متفاوته او

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګټور واوسي او په ډېرو موضوعاتو باندې پوه شې. همدا وخت و چې په استوګنې لیلیې کې مې له خپلو ملګرو سره دا موضوع شریکه کړله او دوی ته مې دا وویل چې ستاسو په اند، د ایران کوم ښار په لیدو او کتو باندې ارزې ترڅو لاړ شو او د دې رخصتیو څخه خوند واخلو او د خپلو ستړیاوو او ستومانیو څخه ځانونه خلاص کړو.

د همدې فکر او سوچ سره سم، کله مې چې له ملګرو سره مشوره وکړه نو اکثرو ملګرو زما دغې فکر ته لبیک وویل او د اکثرو نظر او مشوره د فارس ولایت (شیراز) په اړه وه. په ټولو سره مو ډېرې خبرې اترې سره تاو او راتاو کړې چې بلاخره هوکړې ته ورسېدلو. په پای کې، د دې مشورې هغه وروستي غړي چې وروسته زمونږ سره په سفر کې هم وو، هغه دغه کسان دي: استاد عبیدالله غزنوي، آصف الله آین، شکرالله محمودي او امین الله کوهي. که څه هم په پیل کې مو له ډېرو کسانو سره مشوره کړې وه او اکثرو یې د هو ځواب راکړی و، خو د سفر څخه یو ورځ د مخه د ټکټونو د اخیستلو په ورځ، ډېرو یې مونږ ته منفي ځواب راکړ او یوازې پورتني کسان زمونږ د سفر ملګري شول او د یادو ملګرو سره په مشوره دا سفر د دوو ورځو لپاره تنظیم شو او مقصد ته د تګ وخت مو هم داسې تنظیم کړ چې باید هلته ماښام ورسېږو، شپه په یو هوټل کې تېره کړو او سبا یې سَیر او سیاحت ته مخه کړو، دا ځکه د اصفهان څخه شیراز ته نږدې اووه ساعته لار ده او طبیعي خبره ده چې سفر ستړی کوونکی وي او الحمدالله، هر څه د پلان سره سم په ښه توګه زمونږ د خوښې مطابق پر مخ لاړل چې وضاحت یې مخکې تاسو ته وړاندې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د سفر ډولونه، موخې او ځانګړتیاوې

### علمي (تحقیقي ) + فرهنګي

یو پوهنتون خپلو ملي او بهرنیو محصلینو ته هله د سفر تدارک نیسي؛ چې خپلو ټولو محصلینو ته د خپل هېواد او خلکو مختلف النوع فرهنګونو ورمعرفي کول وغواړي او یا هم پوهنتون له بلې خوا ځینې محصلین د هېواد ځینو تاریخي او فرهنګي ځایونو ته د تحقیق لپاره ور معرفي کوي.

یا هم د مثال په توګه، د یوه محصل د مونوګراف موضوع د یو مشخص عنوان په هکله وي چې باید دا عنوان میداني کار کړي، نو ضرور ده چې د اطلاعاتو د لا ښه او موثق را ټولولو لپاره باید سفر وکړي او د مشاهداتو په پای کې خپل اړین معلومات راټول کړي چې دا ډول سفرونو ته علمي (تحقیقي) او آن لومړۍ بېلګې ته یې فرهنګي هم ویلای شو.

**ځانګړتیاوې:** بڼه: رسمي - وخت: مشخص - افراد: محدود - لګښت: لږ ارزښت: ډېر زیات - جدیت: خورا ډېر.

### تفریحي سفر

د تفریحي سفر بېلګه کولای شو داسې بیان کړو: دا ډول سفرونه اکثرا په رخصتو ورځو او یا هم د ځانګړو ورځو یا مراسمو پر وخت کې رامنځته کیږي، لکه د اخترونو په شپو او ورځو کې، د جمعې ورځ، د نوروز ورځ، د واده مراسمو کې او داسې نور...

**ځانګړتیاوې:** بڼه: غیر رسمي - وخت: نامشخص - افراد: محدود - لګښت: ډېر - ارزښت: ډېرکم - جدیت: لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## سیاحتي (زیارتي) سفر

دا ډول سفرونه هم د علمي مراکزو لخوا لکه (پوهنتون، مراکز ، ښوونځي ... ) او هم د شخصي افرادو لخوا په لاره اچول کیږي. د دې ډول سفرونو اهداف د عالمانو، فقهاوو، عارفانو، شاعرانو، لیکوالانو او د پادشاهانو له ټاټوبي، زادګاه یا زیارتونو او یا هم د تاریخي ځایونو څخه لیدنه وي؛ ترڅو د هغوی د ژوند، شخصیت او تاریخ په هکله ډېره پوهه ترلاسه شي.

د مثال په توګه، زمونږ پوهنتون (اصفهان پوهنتون)، هر کال د محصلینو لپاره د مشهد تور ( د مشهد سفر) په لاره اچوي، ټول مصارف یې هم پوهنتون ورکوي. د دې سفر د عمده اهدافو څخه په مشهد ولایت کې د امام رضاء علیه السلام (دشیعیانو اتم امام) له زیارت څخه لېدنه ده، ترڅو د یاد شخصیت په هکله محصلینو ته پوهاوی ترلاسه شي.

**ځانګړتیاوې:** بڼه: رسمي / غیر رسمي - وخت: مشخص / نا مشخص - افراد: محدود / نا محدود - لګښت: ډېر/کم - ارزښت: ډېر/کم - جدیت: ډېر/ لږ.

## زمونږ سفر فارس ولایت (شیراز ښار) ته!

پیل به د شیراز ښار په معرفت باندې وکړم.

فارس ولایت چې مرکز یې شیراز ښار دی، د تاریخ په اوږدو کې د تیرازیس، شیرازیس په نومونو هم ثبت شوی دی. یاد ولایت د ایران هېواد په سوېل لویدیځ کې موقعیت لري او د دې هېواد پنځم، تر ټولو لوی او نفوس لرونکی ولایت دی. دا ولایت د ایران هېواد د تاریخي او ډېر مخینه لرونکو او مهمو ښارونو څخه شمېرل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


شیراز ولایت د تاریخ په اوږدو کې د ایران د لویو امپراتوریو ( صفاري، آل بویه او زندیه پایتخت هم پاتې شوی دی.
شیراز ښار، د حضرت حافظ او سعدي (رح) ټاټوبی دی او د یادو شخصیتونو زیارتونه هم په همدې ښار کې موقعیت لري، چې تل د شعر، ادب او حماسو ښار په نامه نومول کیږي او هره ورځ د خورا ډېرو داخلي او بهرني سیلانیانو کوربه وي.
مونږ هم خپل یاد سفر ته، غیر رسمي علمي، فرهنګي، سیاحتي او تفریحي نومونه ورکولای شو؛ دا ځکه چې زمونږ په سفر کې هم د پورته ذکر شویو ټولو عنوانونو ځانګړتیاوې موجودې دي.
زمونږ د سفر د رامنځته کېدو مفکوره، لومړی دا باید ووایم چې زمونږ سفر د علمي شخصیتونو لخوا رامنځته شو، دا ځکه چې مونږ ټول د پوهنتون محصلین یوو او همدا چې زمونږ د پوهنتون آزمویني پای ته ورسېدې، نو په ګډه سره مو یو پلان ترتیب کړ تر څو داسې یو سفر ولرو چې علمي، فرهنګي، سیاحتي او تفریحي بڼه ولري.
بلاخره، د ټولو عنوانونو په نظر کې نیولو سره مو هوکړه وکړه ترڅو د ایران هېواد فارس ولایت (شیراز ښار)، ته سفر وکړو او دا سفر مو د لاندې دلایلو پر بنسټ ولاړ وو.
**علمي:** ځکه چې ومو غوښتل د دوه لویو انسانانو ( حضرت حافظ او سعدي ) په هکله، لا ډېر معلومات او پوهه ترلاسه کړو. دا دوه هغه شخصیتونه دي چې په تاریخ کې یې نومونه تل پاتې دي، د انسانیت لپاره یې تل کار کړی، د انسانانو ترمنځ یې د اختلاف مرزونه له منځه وړي او په ټوله نړۍ کې یې نومونه، تر اوسه هم جاویدان پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدارنگه د برنامې سره سم مو د تخت جمشید څخه لیدنه وکړه او په هکله مو عیني او تاریخي معلومات ترلاسه کړل. تخت جمشید چې د هخامنشیانو د سلسلې پایتخت وه او د لوی داریوش لخوا یې بنسټ اېښودل شوی دی؛ د شیراز ښار یو له مهمو تاریخي ځایونو څخه د لیدنې او کتنې لپاره شمېرل کیږي.
همدارنگه د یادولو وړ ده چې په دې سفر کې مو د زندیه حکومت د دورې له ارگ څخه هم لیدنه وکړه. دا ارگ چې د شیراز په مرکز کې موقعیت لري؛ د زندیه حکومت له مشهورو آثارو څخه شمېرل کیږي چې د کریم خان زند مشهور په وکیل الرعایا لخوا په کال ۱۱۸۰ هـ.ق کې جوړ شوی او د شیراز له مشهورو ځایونو څخه شمېرل کیږي.
**فرهنگي:** څکه چې غوښتل مو د د فارس ولایت (شیراز) د خلکو په فرهنگ او په مختلفو کلتورونو باندې ځان پوه کړو، لکه: لهجه، خواړه، لباس او ادبیات چې خوشبختانه په دې سفر که مو د یادو مواردو په هکله ډېره پوهه ترلاسه کړه او هغه داسې چې له عوامو خلکو سره مو خبرې اترې وکړې.
د مثال په توگه د شیراز د خلکو مشهور خواړه، کلم پلو دی. همدارنگه یوه شیرازي کلمه مو هم زده کړه چې دوی ورور ته (کاکو) وایي، سربېره په دې مو یوه شیرازي جمله هم زده کړله، چې ډېره به یې ویله او خوږه ده هغه دا چې: (قوبون چشات برم کاکو) ژباړه: له سترگو څخه دې ځار شم وروره او همداسې نور...
همدارنگه د یادولو وړ ده چې د شیراز خلک نسبت اصفهان خلکو ته، نرم او ریښتیني خلک دي.
**سیاحتي (زیارتي)**: د سیاحت مانا اکثرا د یو محل او یا د یو ځای ظاهر لیدلو ته ویل کیږي. نو مونږ هم په همدې فکر سره پلان درلود چې د شیراز ولایت آبادی

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ښکلاګانې وګورو او په ډاډ سره درته ویلای شم چې شیراز ښار ته د نورو ودانیزو ښکلاوو سربېره، تر ټولو ډېره ښکلا او عظمت، د حضرت سعدي او حافظ زیارتونو ور په برخه کړې دی.
هغه په دې مانا، کله چې تاسو د دې دواړو شخصیتونو له زیارت څخه لیدنه کوئ؛ نو انسان ته د ښکلا او عظمت احساس ور په برخه کوي او په وجود کې مو دا احساس کوئ چې ای کاش! دغه لوی انسانان مې له نږدې لیدلي وای او له دوی سره مې وخت تېر کړی وای؛ دا ټول د دوی د زحمت، کوښښ او ښه توب په پار. الله (جل جلاله) په خپل مبارک کلام کې فرمایي: (وَتُعِزُّ مَن تَشاءُ وَتُذِلُّ مَن تَشاءُ) الله پاک عزت او ذلت ورکوونکی دی. نو په واقعیت چې الله پاک حضرت حافظ او حضرت سعدي ته هغه عزت ورکړی دی چې له ټولې نړۍ څخه یې خلک د آثارو او تالیفاتو سربېره، د زیارت د لیدو مئینان هم دي.
**زیارتي:** زیارت په ټوله کې د لیدلو په مفهوم دی خو که په ځانګړې توګه یې تعریف کړو، بیا د مقدسو ځایونو او یا هم د لویو شخصیتونو له زیارتونو څخه د لیدنې په مانا، کارول کیږي.
زمونـــږ د شیراز سفر زیارتي بڼه هم درلوده، هغه په دې مانا چې مونږ په دې سفر کې د شاه چراغ له آرامګاه څخه هم لیدنه وکړه. احمد ابن موسی کاظم مشهور په شاه چراغ؛ دا یو لوی زیارت او آرامګاه ده چې د شیراز په مرکز کې موقعیت لري. د شیعیانو د عقیدې پر بنسټ احمد ابن موسی کاظم د شیعیانو د اووم امام، موسی ابن جعفر کاظم مشر زوی دی او همدارنګه محمد ابن موسی، د علي ابن موسی الرضا ورور هم په یاد زیارت کې خاورو ته سپارل شوی دی.
شاه چراغ زیارت په ایران هېواد کې دربېم ارزښت لرونکی زیارت دی. هغه داسې چې په لومړي مقام کې د علي ابن موسی الرضا مشهور په امام رضا زیارت دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې د شیعیانو اتم امام دی او په مشهد ښار کې موقعیت لري . په دویم مقام کې د معصومه فاطمه ( د موسی ابن جعفر اولاده) زیارت دی، چې په قم ولایت کې موقعیت لري.

**تفریحي:** تفریح د خوشالي، سرگرمي او له وخت څخه هر ډول خوند اخیستلو ته وایي.

د مثال په توگه په تفریحي مواردو کې، انځور اخیستل، ټوکې ټکالې، خوراک کول، مستي کول، له خلکو سره وخت تېرول، لوبې کول او داسې نور ورته فعالیتونه شامل دي چې یوازې د طبیعت د جوړولو او یا هم د سترړیا د له منځه وړلو په پار، ترسره کیږي.

د پورتنیو مواردو په نظر کې نیولو سره مونږ هم تازه د پوهنتون له آزموینو څخه خلاص شوي وو او ومو غوښتل چې د درسونو او د آزموینو سترړیا، له منځه یوسو او د راتلونکي سمستر لپاره آماده شو، نو ځکه مو دا سفر ترسره کړ.

زمونږ په سفر کې لاندې تفریحي فعالیتونه شامل وو.

انځور اخیستل، د شیراز د کلتوري کالیو اغوستل، ټوکې ټکالې، پخلی، هګۍ جنگونه، له خلکو سره خبرې اترې، شیرازي خواږه خوړل، لوبې...

## د سفر ملگري

د سفر د ښه والي او یا هم که داسې ووایم بده به نه وي، چې د سفر مالگه چې د سفر د طعم لپاره ډېره اړینه موضوع ده، هغه د وړ او مناسبو ملگرو درلودل دي. په مستدرک کتاب کې راځي (الرفیق ثم الطریق). د سفر لپاره، لومړی همسفر، وروسته سفر. (ژباړه).

وړ او مناسب په څه مانا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


وړ او مناسب په دې مانا چې مونږ باید په دې پوه شو چې له هغه چا سره چې سفر کوو، آیا زمونږ سني (عمر) تفاوت، علمي، فرهنګي او مذهبي تفاوت ورسره په کومه کچه دی؟

همدارنګه د یادولو وړ ده چې ستاسو نړۍ لید هم د سفر په برخه کې ډېره اړینه موضوع ده، هغه دا چې تاسو باید خپل ځان وپېژنئ، چې څه ډول فکر، خوی او خاصیت لرئ، مذهبي یاست، شوخ یاست، آرامه یاست، د زغم کچه مو په کومه اندازه ده او داسې نور ورته موضوعات.

زه دا نه وایم چې دا تفاوتونه بده اغېزه لري او یاهم اړین نه دي، خو دا به هم درته ووایم چې د اغېز څخه خالي هم نشي کېدلای واوسي او ډېرَی وخت هم موثر او ګټور نه تمامیږي.

د مثال په توګه که تاسو له داسې یو کس سره سفر وکړئ چې د هغه کس علمي کچه ډېره لوړه وي، خو ستاسو علمي کچه لوړه نه وي؛ بلکې یوازې یو مذهبي شخص یاست، په دې صورت کې ستاسو او د هغه کس ترمنځ حتما فکري تفاوت شتون لري او دا سفر به مو د تقابل څخه لرې نه وي.

مذهبي تفاوت: تر ټولو د مهمو تفاوتونو څخه مذهبي او فکري تفاوت دی. هغه په دې مانا چې ډېر پام مو وي که له یوه داسې کس سره سفر کوئ چې ستاسو د فکر او مذهب په تقابل کې وي، نو پام چې د یو بل په فکري او مذهبي مرزونو باندې تېرَی او یا هم منفي نظر ور نکړئ؛ ځکه تاسو باید د سفر په هدف باندې خبر واوسئ او په دې پوه شئ چې دا سفر د دې لپاره نه دی چې مونږ پر یو بل خپل فکر او عقیده تحمیل کړو، په دې برخه کې له خورا ډېر زغم څخه کار و اخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو بل اړين مثال دا هم کيدلای شي چې که تاسو داسې ملګري ولرئ چې هغوی نشه کوي او تاسو د نشې اهل نه یاست او آن خالي دود او فضا يې هم پر تاسو باندې بده اغېزه کوي؛ نو دې موضوع ته هم په جديت سره پام ولرئ چې بيا به سفر درته ډېر بې خونده تمام شي.

د فرض په توګه، که تاسو پورتني موضوعات په نظر کې و نه نيسئ، هغه ستونزې چې تاسو به ورسره ممکن مخامخ شئ؛ هغه عبارت دي له لاندې مواردو څخه.

د فکر او عقيدې له نظره تقابل، په دې مانا چې حتما به په سفر کې يا ستاسو لخوا او يا به هم د خپلو ملګرو لخوا د نقد او تقابل سره مخامخ کېږئ. زه به د خپل سفر يو عيني مثال درته وړاندې کړم.

مونږ په خپل سفر کې ځينې ملګري درلودل چې پنځه وخته لمونځ ته يې ډېر پام او جديت درلود او ځينې نورو برعکس، دا په څه مانا؟! په دې مانا چې په سفر کې ملګري بايد تل سره يوځای وي، خو برعکس زمونږ ځينې ملګرو به د لمانځه پر وخت، لمونځ ته ډېره لېوالتيا نه ښودله او تل به يې ويل، وخت شته دا کار به وکړو، له دې کار يا عمل وروسته به لمونځ وکړو او يا به هم د اودس کولو څخه په وېره به يې لمونځ ته بهانې لټولې. په دې برخه کې به زمونږ او د مقابلې ډلې ترمنځ، د همدې موضوع پر سر يو څه اختلاف رامنځته کېدلو او ترمنځ به مو يو څه فاصلې رامنځته شوې.

خلاصه شيطان په دې بريالی نشو تر څو زمونږ ترمنځ اختلاف رامنځته کړي او سره بېل مو کړي، الحمدالله! دا ځکه چې دلته دی چې د انسان نړۍ ليد خپل تعريف ښايي او په خبرو اترو، سره به مو موضوع حلوله.

دا مې يو حقيقت او د سترګو ليدلی حال درسره شريک کړ، ترڅو په سفر کې دا موارد ضرور په پام کې ونيسئ او خدای مه کړه له لويې ستونزې سره مخ نشئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يوه بله ورته موضوع دا چې اکثرا مونږ د اتفاقي سفرونو سره مخامخ کيږو، هغه په څه مانا؟!

کله چې ګورو زمونږ د کورنۍ يا ملګرو څخه يوه ډله کسان غواړي سفر ته لاړشي، نو مونږ ته هم يو ناڅاپي وړانديز راکوي، مونږ هم پرته له دې چې په دې فکر وکړو چې آيا زه د دوی سفر ته وړ کس يم او کنه؟ ورسره سفر کوو؛ چې بيا وروسته په دې پوهيږو چې په رښتيا چې اضافي ياست او يا هم سفر درته ډېر بې خونده تماميږي.

## د سفر مديريت

د سفر مديريت، د سفر ثقل موضوع ته ورته موضوع ده، دا په څه مانا؟!

په لومړي قدم کې تاسو بايد د خپل سفر لپاره يو مشر وټاکئ.

د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) حديث دی چې فرمايي:

اذا کان ثلاثه سفر فليؤمرو احدکم. ژباړه: کله چې درې کسان سره همسفر شوئ، نو له خپل منځ څخه يو مشر وټاکئ.

د سفر لپاره مشر، لکه د يوې کورنۍ لپاره د پلار او مور شتون، د يو دولت لپاره د ولسمشر، د يوې ډلې لپاره د يوه لاربښود حيثيت لري.

همدارنګه، تاسو بايد د مالي، زماني او د تعامل له اړخه د سفر مديريت له ځان سره ولرئ.

**مالي:** په بيهقي حديث کې د اقتصاد په اړه داسې راځي (الاقتصاد فی النفقة نصف المعيشة). اقتصاد نيم ژوند دی. ( ژباړه)

کله چې سفر کوئ، په پيل کې تاسو بايد د خپل سفر لپاره د مصارفو په برخه کې يو وړ او مطمئن کس، د مالي مدير په توګه وټاکئ. په څه مانا؟! دا يوه طبيعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره ده چې هر سفر خپل مصارف لري، دا مصارف باید په لومړي کې د سفر له ملګرو څخه راټول شي او بیا د سفر په اوږدو کې د یوه کس لخوا مصرف شي. په څه مانا؟! تاسو د سفر لپاره باید په لومړي کې، مقصد ته ټکت وکړئ، بیا ورپسې خوراکي توکي واخلئ، ورپسې ورته نور مصارف وکړئ؛ دا ټول باید د یوه کس لخوا ترسره او مدیریت شي، ترڅو ستاسو سفر د یووالي او یو واحد دستور او فکر څخه برخمن واوسي.

که د سفر په اوږدو کې تاسو مالي مدیر ونلرئ او د مصرف کولو شخص یا مسؤل مالوم نه وي؛ نو طبیعي ده چې د سفر په اوږدو کې به د هر چا یو بل ته سترګې وي چې مصرف وکړي او د ملګرو ترمنځ یو ډول بې باوره فضا رامنځته کیږي. دا په څه مانا؟!

دا په دې مانا چې د سفر په پای کې به له یوه کس څخه خورا ډېرې پیسې مصرف شوي وي او یو بل کس به هېڅ مصرف نه وي کړی او همدا ځای دی چې ملګري د پیسو په خاطر سره بیا برخلاف کیږي او په راتلونکي کې سفر ته زړه نه ښه کوي. بهتره ده چې په داسې یوه موضوع چې تل د دنیا په ناپاکي (پیسې) نومول کیږي، خپل صمیمي ملګري له لاسه ورنکړو؛ هغه ملګري چې کلونه کلونه ورسره خوښ او مل یوو.

په مالي برخه کې یوه بله اړینه خبره چې یادول یې ضرور ګڼم هغه دا چې، د سفر په اوږدو کې باید د خپلو ملګرو مالي وضعیت هم په پام کې ونیول شي. دا په څه مانا؟!

دا په دې مانا، کله چې تاسو د خپلو ملګرو څخه د سفر د مصارفو لپاره روپۍ راټولوئ، باید د سفر په اوږدو کې د یادو پیسو د مصرفولو کنټرول هم وکړئ او په بېځایه خوراکونو، تفریحي لوبو او یا هم په ورته نورو شیزونو باندې یې مه مصرفوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې بیا ستاسو سفر بې خونده او د ملګرو ترمنځ د پیسو د کمښت په پار یو ډول بې باوره او بې اعتماده او نامنظمه فضا رامنځته کیږي. ځکه د سفر په اوږدو کې، مالي مدیر نباید خپلو ملګرو ته د هرڅه اخیستلو، خوړلو او یاهم امتحانولو وړاندیز وکړي، دا ځکه چې بیا نو تاسو د پیسو له کمښت سره مخامخ کیږئ او د سفر له اصلي هدف (سَیر او سیاحت او د مالوماتو راټولولو) څخه پاتې کیږئ.

**زماني:** په سفر کې د وخت مدیریت هم یو له اړینو موضوعاتو څخه شمېرل کیږي. هغه په څه مانا؟!

هغه په دې مانا چې ضرور باید ستاسو د سفر د پیل او پای وخت د ملګرو لپاره معلوم وي، ځکه چې هر څوک په خپل فکر کې مختلفې برنامې لري. ملګري مو باید خبر وي چې سفر د څو ورځو لپاره دی چې بیا مو د سفر په اوږدو کې تقابل رامنځته نه شي، ځکه که د سفر په اوږدو کې هر ډول تضاد رامنځته کیږي؛ نو په ډاډ سره درته ویلای شم چې په ټول سفر باندې به مو منفي اغیزه کوي؛ دا تضاد څه په مالي برخه کې وي، څه په فکري او څه په زماني برخه کې. د یادولو وړ ده چې دا تضاد کیدلای شي په راتلونکي ژوند باندې مو هم، بده اغېزه ولري.

**د تعامل له اړخه:** تعامل په دې مانا، کله چې سفر کوئ نو طبیعي خبره ده چې تاسو هر یو، د یو ډله کسانو استازیتوب کوئ او که لږ نور هم موضوع درته روښانه کړم، تاسو په خپل سفر کې چې هر چېرته ځئ، سربېره پردې چې د خپل سفر د ډلې استازیتوب کوئ؛ په لویه کچه د خپل قوم، ملت او د هېواد استازیتوب هم ورسره کوئ. څه دا سفر داخلي جنبه ولري او څه هم بهرنۍ جنبه.

الله پاک په قرآن کریم کې فرمايي: وقولو للناس حسنا (البقره: ۸۳)

ژباړه: خلکو ته ښې خبرې کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پورتني عنوان په نظر کې نيولو سره، د سفر په اوږدو کې داسې يو نا مناسب کار يا عمل مه ترسره کوئ؛ چې بيا يې پور ستاسو ټول ملګري جمع قوم، ملت او آن هېواد پرې کړي.

د مثال په توګه، که تاسو د کوربه خلکو سره ناوړه چلند، بد رفتار او يا هم داسې يو کار ترسره کړئ چې د هغه خلکو د کلتور، فرهنګ او عنعناتو خلاف وي، نو هغه خلک به نه يوازې دا چې تاسو به بد ووينې؛ بلکې ستاسو د قوم، ملت او هېواد په هکله به هم بد فکر پيدا کړي. دا موضوع له هېواد څخه بهر ډېره د پام وړ ده.

د مثال په توګه، مونږ د ايران هېواد په اصفهان پوهنتون کې محصلين يوو. مونږ دلته، تل د افغانستان په نوم ياديږو. نه داچې يوازې د يو فرد په صفت، بلکې په ترتيب سره مونږ په لومړۍ مرحله کې د افغانستان په نوم، بيا په کوچني مقياس سره هر يو د خپل قوم، کورنۍ او د خپل ټاټوبي د استازي په توګه نومول کيـږو.

نو تل له نورو سره، په ځانګړې توګه له ايرانيانو سره په تعامل کې ډېر احتياط کوو او تل دا په ياد لرو چې بايد د خپل وطن، قوم او ټاټوبي ارزښت، ضرور نېک وساتو ترڅو نوره نړۍ زمونږ د هېواد په هکله مثبت فکر پيدا کړي. ټول انسانان په غير رسمي توګه د نړۍ په هر ځای کې چې وي، بياهم د خپلې کورنۍ، قوم او هېواد د فرهنګ او کلتور استازولي کوي. هغه څه ښه يې ويلي، مشت نمونه خروار.

## د سفر تجملي اړخ

د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) څخه حديث دی چې مبارک فرمايي:

(إنّ اللهَ جميلٌ يُحِبُّ الجَمالَ)

ژباړه: الله (جل جلاله) ښکلی دی، ښکلا خوښوي. (مسلم - حديث ۹۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدارنگه علامه صابوني (رح) فرمايي: په شرعي دايره کې زيب او زينت حاصلول مطلوب او مقصود دي او دا په کبر کې داخل نه دي.
د پورتنيو شرعي موضوعاتو په نظر کې نيولو سره، بهتره ده چې د سفر لپاره تر خپل وس او توان پورې، ځان په ښو کاليو باندې سمبال کړئ، او ترڅنګ يې ستاسو د جامو منظموالی، ستاسو د پاکوالي او دکلتور استازولي هم کوي. څومره چې تاسو په سفر کې د جامو له اړخه ښکلي او منظم واوسئ، په هماغه اندازه به له تاسو سره د خلکو تعامل ښه وي؛ دا ځکه چې په ډېر تأسف سره اوس خلک ډېر ظاهر پرست دي.
د منظمو کاليو د ښه توب په اړه به زه د خپل سفر عملي او د سترګو ليدلی حال درته بيان کړم.
لکه څرنګه چې تاسو د دې کتاب په کاور کې ګورئ، زمونږ د سفر ټولو ملګرو منظم او که مبالغه ونکړم نو ډيپلوماټيک کالي اغوستي دي، نو له چا سره به چې مخامخ شوو او يا به هم که د پوليسو له پلټنې سره مخامخ شوو، نو پرته له دې چې پوښتنه وکړي په ډېر احترام سره به يې ښښنه غوښتله او هېڅ به يې راځخه نه پوښتل، چې څوک ياست او له کومه راغلي ياست ځکه زمونږ منظمو جامو او منظموالي به خپله خبرې کولې.
د پورتنۍ موضوع د ټينګښت په پار غواړم تاسو ته يوه عيني صحنه را نقل کړم. هغه داسې، د شيراز په سفر کې، د شاه چراغ له زيارت څخه د ليدنې پر وخت، کله چې ياد زيارت ته ورسېدو، نو ومو ليدل چې ډېر کلک امنيتي تدابير يې نيولي وو، هرځای مسلح پوليس ولاړ وو، د دې حالت په ليدلو سره، زمونږ يوه ملګري وويل: " راځئ، دې ځای ته له ورتګ څخه ډډه وکړو، ځکه چې ممکن زمونږ افغانانو ورتګ دې زيارت ته ممنوع وي". ( دا ځکه چې په تېرو دوو کلونو کې په ياد زيارت

(c) ketabton.com: The Digital Library


باندې حملې شوې وې. په ډېر تأسف سره به ووایم هر چېرته چې غم وي، نو د افغان نوم ورسره ترڅنګ وي. نو په همدې پار، یاد زیارت ته د افغانستان د اتباوو ورتګ ممنوع اعلان شوی و). ما ورته وویل: "چې اوس خو راغلي یوو، حتما له دې زیارت څخه لیدنه کوو، نور که هرڅه کیږي".

بلاخره چې دروازې ته ورغلو د پولیسو لخوا په ډېره سطحي توګه تلاشي شوو او آن پولیسو یاده هم نکړه چې له کومه راغلي یاست، وروسته مو چې له ملګرو سره یاده موضوع شېرله، نو پوه شوو چې دا ټول د منظمو کالیو اغوستلو اغېزه وه او همدارنګه له همداسې نورو ورته موضوعاتو سره مخامخ شوو چې زمونږ د منظمو کالیو اغوستلو اغېزه پکې رغنده رول درلود چې الحمدالله له هېڅ ډول ستونزې سره مخامخ نشوو.

د دې موضوع ښه توب مې ځکه تاسو ته بیان کړ چې په دې وخت کې د ایران او افغانستان د حکومتونو اړیکې ډېرې ښې نه وې، نو افغانان به د ایران په هر ځای کې په یوه او بله بهانه باندې  د خلکو او پولیسو لخوا ځورېدل او ښه رویه او رفتار به نه ورسره کېده.

## ډالۍ

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) حدیث دی، چې مبارک فرمایي:

ژباړه: کله چې ستاسو څخه څوک سفر ته لاړو، نو د بېرته راتګ څخه دې، خپلې کورنۍ ته آن که یوه ټوټه تېږه هم وي، ډالۍ (تحفه) راوړي!

همدارنګه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) بل حدیث کې راځي:

ژباړه: یو بل ته ډالۍ (تحفه) ورکړئ، ترڅو مو مینه زیاته شي؛ ځکه ډالۍ، نفرت (کینه) له منځه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سفر څخه د کور په لور تلل او د کورنيو غړو جمع ملګرو ته ډالۍ اخيستل د انساني فطرت يا که په ځانګړې توګه ورته يادونه وکړم د افغانانو له نېکو او غوره کلتورونو څخه شمېرل کيږي.

دا په څه مانا؟! خپلې کورنۍ او يا ملګرو ته د سفر په اوږدو کې د ډاليو اخيستل، ډېر تفسيرونه او ماناګانې لري.

**لومړی**، د سفر په اوږدو کې د خپلو کورنيو او يا ملګرو د يادولو او د هغوی سره د مينې درلودلو په رسم.

**دويم**، د سفر د ځای څخه د يوې خاطرې درلودلو په رسم.

**دريم**، همدارنګه د کورنيو او ملګرو لخوا هم د مسافر څخه د سفر له ځايه د ډاليو راوړلو د تمې په رسم، دا په څه مانا؟!

طبيعي خبره ده، کله چې زمونږ د کورنۍ او يا له ملګرو څخه کوم يو چېرته سفر کوي، نو په ناڅاپي توګه، د نوموړي کس څخه د ډالۍ راوړلو هيله لرو که څه هم په ژبه ورته ونه وايو، دا ځکه چې غواړو د ياد کس څخه د سفر له ځايه يوه نښه او يا هم نښانه له ځان سره ولرو.

د مثال په توګه، کله چې زمونږ دکورنۍ له غړو او يا هم د ملګرو له ډلې څخه کوم کس د حج  فريضې د ادا کولو په پار مکه مکرمې ته ځي او بېرته راګرځي، کله چې يې پوښتنې ته ورځو، طبيعي خبره ده چې دا تمه لرو چې اوس به يو څه راته راکوي او د سوچ سره سم، مونږ او تاسو ته يو څه راکوي، آن که يو جوړ تسبېح هم وي، نو دلته دی چې مونږ ترې خورا ډېر خوشاليږو او ترې ډېره منه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پورتني حديث په مصداق سره، دا مهمه نده چې ستاسو ډالۍ څومره ارزښت او يا قيمت لري، مهمه دا ده چې حتما خپلو خپلوانو او ملګرو ته ډالۍ واخلئ، په رښتيا هم د يادو کسانو ډېر د خوشالي او د خوښي سبب کيږي.

**پيامونه**

په دې برخه کې غواړم فارس ولايت (شيراز) ته د خپلو مل ملګرو پيامونه يا هم تجربې را واخلم او ستاسو سره يې دلته شريکې کړم.

په لومړي کې غواړم خپل شخصي نظر او تجربې ستاسو درانه حضور ته وړاندې کړم.

د سفر په پايله کې تاسو سربېره پر دې چې د الله (جل جلاله) د خلقت په راز او رمز باندې پوهېږئ، تاسو به د تېرو انسانانو، پادشاهانو او سلطنتونو په هکله هم پوره پوهه ترلاسه کړئ، هغه په څه مانا؟!

د تېرو انسانانو د تاريخ مطالعه، څه عيني (ميداني) مطالعه وي او څه هم کتابخانه يي؛ تاسو ته به دا در زده کړي چې د تاريخ په اوږدو کې کوم سلطنتونه او پادشاهۍ چې تېرې شوې دي؛ په اصل کې دوی د دې په هکله فکر نه دی کړی چې تاريخ به ضرور د دوی د کړنو او اعمالو په هکله فيصله کوي او د دوی حکومتونه، سياستونه او اعمال به حتما د راتلونکو نسلونو لپاره په دوو ښو تفسيريږي.

- يا به تېر حکومتونه د ښې الګو او (سرمشې) په توګه وي.
- او يا به هم تېر حکومتونه د بدې الګو په توګه يادول کيږي.

همدارنګه د انسانانو تاريخي مخينه هم په پورتنۍ ښه مطالعه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یا به دا انسانان د راتلونکو نسلونو لپاره د ښې الګو او وړ اشخاصو په توګه وي او یا به هم د عبرت او پند شخصیتونو په توګه.

هیله مې دا ده چې هر حکومت او شخص باید داسې یو تاریخ له ځانه پرېږدي چې خپلو پلویانو او یا هم خپل ملت ته یې د خیر او نېکمرغۍ سبب وي.

دا ځکه چې تاریخ به ضرور د هر حکومت او شخص په اړه پرېکړه وکړي چې له دې دوو حالتونو څخه به لري نه وي: نېک شخصیت او فاضله حکومت یا به د ناکاره کس او حکومت په توګه یاد او معرفي شي.

نېک شخصیت او فاضله حکومت، هله کیدونکې دي چې اشخاص او حکومتونه د الله (جل جلاله) له وېرې، د قرآن په رڼا کې او د بشریت د لوی ناجي حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په قدم باندې قدم کیږدي او نورو انسانانو ته خالصانه د خدمت جوګه وګرځي.

په درنښت

اعجازالحق "محرابي"

۱۴۰۲-۱۱-۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه څرنګه چې الله پاک په قرآن الکریم کې فرمايي: (فَإِذا قُضِيَتِ الصَّلاةُ فَانْتَشِرُوا فِی الْأَرْضِ وَ ابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللهِ). ( جمعه: ۱۰)

ژباړه: بیا کله چې لمونځ ترسره شي، نو په ځمکه کښې خواره شئ او د الله (جل جلاله) فضل ولټوئ.

د الله (جل جلاله) د پورتني حکم په مصداق سره، مونږ هم په ټولیزه توګه له یوه ډله ملګرو سره، د الله (جل جلاله) د ځمکې یوې برخې ته، یانې د ایران هېواد فارس ولایت (شیراز ښار ) ته خواره شوو.

له یاد ښار څخه د لیدلو انګېزه مو، د تاریخي مخېنې د درلودلو سربېره، په یاد ښار کې د تاریخ د مشهورو څېرو د ژوند کولو درک، هم و.

یاد ښار تاریخي ځکه دی، چې له میلاد د مخه، د نړۍ یو له پخوانیو مراکزو څخه چې د تخت جمشید په نوم شهرت لري، په یاد ښار کې موقعیت لري. دا ځای د هغه وخت، له په زړه پورې او بې بدیله کارنامو څخه شمېرل کیږيِ، دا هغه پخوانی مرکز دی چې د هغه وخت په لویو ډبرو باندې منظم، مزین او حکاکي شوی دی.

یاد ښار له تاریخي اړخه ځکه د توجه وړ دی چې دا ښار د حضرت حافظ او سعدي ټاټوبی دی او همدارنګه د یادو لویو شخصیتونو زیارتونه هم، په همدې ښار کې موقعیت لري. چې دا دواړه شخصیتونه د ادب، غزل، پند او د حکمت په آسمان کې د لمر په شان هسک ځلیدونکي شخصیتونه دي او هر د ادب مینوال یې دې ته لېواله کړی ترڅو د دې ښار څخه لیدنه وکړي.

د همدې په پار د حضرت سعدي یو حکایت او همدارنګه د حضرت حافظ له یو غزل څخه یو بیت، د دې سفر د تحفې او خاطرې په پار، تاسو ته په وړاندې کولو سره خپلې لیکنې ته دوام ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


حکايت: يو حکيم خپل زوی له ډېرو خوړلو څخه منع کوي، ورته وايي: ډېر خوړل (مړېښت) خلک په ناروغۍ اخته کوي. زوی يې وويل: اې پلاره! لوږه خلک وژني. اوريدلي دې نه دي چې پوهاند وايي: په مړېښت مړه کېدل او په لوږه وږل. پلار يې وويل: له اندازې سره! کلوا واشربوا و لا تسرفوا.

همدارنگه د حضرت حافظ يو بيت دی چې زما په زړه کې يې ځانگړی ځای نيولی دی.

بر سر تربت ما چون گذری همت خواه – که زيارت گه رندان جهان خواهد بود.

کله چې زمونږ د روضې څخه ليدنه کوئ؛ نو همت وغواړئ!

ځکه چې تکړه خلک د همدې ځای څخه، ليدنه کوي.

مونږ هم په همدې توگه د نورو ليدو کتو سربېره، د حضرت حافظ له روضې څخه هم ليدنه وکړه او د زړونو په دې مئين شخصيت، پر روح مو بې شمېره دعاگانې وکړې.

په پای کې د الله (جل جلاله) له دربار څخه د ځان او د سفر ملگرو ته مې د لوړ همت، استدعا کوم.

په مينه سره

عبيد، عبيد الله "غزنوي"

اصفهان - پوهنتون

۱۴۰۲-۱۱-۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library


اجازه راکړئ له دې جملو سره پیل وکړم، که غواړئ د یو کس شخصیت وپېژنئ؛ نو ورسره سفر وکړئ. که غواړئ د ملګري په حقیقت باندې ځان پوه کړئ نو یوځل د ملګري د خواهش او هیلې خلاف نظر وړاندې کړئ.
د انسان واقعي څېره په سفر کې او د ملګرو زغم مو په انتقاد کولو باندې ډېر ښه درته جوتیږي.
په رښتیا، دکال ژمی و، هوا ډېره سړه نه وه، د پوهنتون ونو خپلې ښکلاګانې ساتلې وې، الوتونکو خپلې سندرې زمزمه کولې، د مني پاڼو خپل شور (غږ) ساتلی و. زده کوونکو نږدې سمستر پای ته رسولی و. په دې کې، ځینو زده کوونکو خپلو ټاټوبو ته د تګ په پار خوشالي او مستی کولې، ځېنې زده کوونکي د خپلو نمرو د اعلان څخه په ویره وو، ځینې هم د سمستر پای ته رسېدلو ته خوښ وو.
سربېره پر دې اندېښنو، کله به چې مونږ د افغانستان محصلین د لیلیې څخه بهر ته وتلو؛ نو د ایراني محصلینو خوشالي به مو لیدله چې د خپلو کورنیو ترځنګ به کور ته د تګ لپاره یې کوله. نو زړونه به مو د خپل هېواد او کورنیو لور ته مات شول او په زګیروي به شوو، د وطن خاطرات به لکه د تسبېح او د مروارېدو د ارزښتناکو دانو په څېر، زمونږ په ذهنونو کې یو د بل پسې تاو او راتاو شول. په همدې وخت کې و چې زمونږ ځینو ملګرو په ګډه سره زمونږ د خوږ او خوښ مزاجه ملګري او وطنوال، اعجازالحق محرابي سره د سفر ترتیب برابر کړ. نوموړی هم د داسې یو ولایت (غزني) څخه دی، چې تل یې نوم په تاریخ کې د شعر، ادب، مینې او حماسو سره مل دی، دا چې نوموړي مونږ ته د انګلیسي ژبې تدریس کولو، نو د همدې په پار مو نوموړي ته د استاد لقب ورکړی او په رښتیا هم چې نوموړی زبردسته استاد و. همدارنګه نوموړی د استادي ترڅنګ په لیلیه کې زمونږ یو له ښو ملګرو څخه شمېرل کیدلو. که څه هم دا ممکنه نه ده چې د محصلي د خوږو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاطراتو او کیسو څخه داسې په آسانه تېر شم، خو مجبورا نورې کیسې دې پاتې شي بل وخت ته.

نن ورځ (۸ -۱۱- ۱۴۰۲) جمعا پنځه مگرو سره خپل سفر پیلوو او د سفر مقصد مو د ایران هېواد سوېل لویدیځ ښار، فارس ولایت (شیراز ښار ) ته دی او دا د ایران هېواد یو له تاریخي ښارونو څخه دی چې تل د شعر او عرفان ، صفا او صمیمیت او د اتلانو په ټاټوبي باندې مشهور دی.

مونږ هم په همدې سره، د مینې، ساده، با نزاکته، مهربانه او ریښتینو خلکو ښار (شیراز) کې د یو څو ورځو لپاره مېلمانه وو او د شعر او ادب د لویو شخصیتونو (حضرت حافظ او سعدي) د زیارتونو سربېره د هخامنشیانو د لویې ماڼۍ (تخت جمشید) چې په خپل وخت کې د نړۍ د لویې امپراطورۍ له مراکزو شمېرل کیده، څخه مو هم له نږدې لیدنه وکړه او د فارس د لویو شخصیتونو او تاریخ په هکله مو ډېر مالومات ترلاسه کړل.

یاد سفر مونږ ټولو ته ډېر ښه او گټور و او د لویو انسانانو له زیارتونو څخه مو هم لیدنه وکړه چې دا ټول موارد د فارس تمدن د هویت ببلگه او د لویو ویاړونو استازولي کوي. په دې سفر کې مو نور هم ډېر څه زده کړل چې د خپلو ذهنونو د بډایتوب لپاره مو ډېر گټور و.

په پای کې، زما ځانگړی پیام ټولو عزیزانو ته دا دی.

مهمه نده چېرته یاست، څه په هېواد کې څه بهر کې، د تاریخ په هره مرحله کې چې یاست، د هرې جغرافیا سره چې تعلق لرئ، د هر مذهب سره چې تعلق لرئ، په هره ژبه چې خبرې کوئ او په هر جنسیت چې یاست، حداقل باید د یو، دوو او یا هم زیاتو، کلنو په اوږدو کې د خپل چاپېریال څخه بهر سفر وکړئ. ستونزه نه لري که سفر مو ډېر مزین او دیپلوماټیک یا رسمي هم نه وي، کولای شي، ستاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library


له فهم او درک سره خورا ډېره مرسته وکړي، ترڅو د يوې ټولنې له واقعيتونو څخه د خپل وجدان د اصولو پر بنسټ خبر شئ.

د دې تشبيه داسې ده، چې نور نو يوه ونه ونشي کولای؛ ستاسو څخه د لوی ځنګل ښکلا پټه کړي، د انګريزانو په وينا هغه څوک کولای شي لندن وپېژني چې روم او پاريس يې هم ليدلی وي.

سفر ستاسو سره دا مرسته کوي چې ستاسو فکر نسبت نورو انسانانو او ټولنو ته بدلون ومومي او ټول له يوې زاويې او ذره بين څخه ونه ګورئ او د خپلو ښو او بدو، معالج خپله واوسئ.

غواړم د حافظ په لاندې شعر باندې خپلو خبرو ته د پای ټکی کېږدم.

عيب رندان مکن ای زاهد پاکيزه سرشت

کـه گـنـاه ديـگران بـر تـو نخواهند نوشت

مـن اگر نيکم و گر بد، توبرو خود را باش

هـرکـسی آ ن درود کـه عـاقـبت کـار کشت

آصف الله "آرين"

۱۵-۱۱-۱۴۰۲

اصفهان - پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما د خبرو بنسټ، د الله پاک کلام، د غافر مبارکه سورې، ۲۱ آیت دی.
آیا دوی کله په ځمکه کښې گرځېدلي نه دي چې د هغو خلکو عاقبت يې ليدلی وای چې له دوی څخه مخکې تېر شوي دي؟ هغوی له دوی څخه زيات قوي ول او له دوی څخه يې زياتې قوي نښې نښانې په ځمکه کښې پرې ايښي دي. خو الله (جل جلاله) د هغو په گناهونو هغوی ونيول او له الله (جل جلاله) څخه د هغو ژغورونکی هيڅوک نه و. (ژباړه)
په لومړي قدم کې ځای لري، چې د خپل لوی او سپيڅلي الله (جل جلاله) څخه د ټولو راکړل شويو نعمتونو په پار شکر او مننه وکړم. دا نعمتونه الله (جل جلاله) د خپل ځانگړي صفت، منعم والي په پار، خپلو بندگانو ته بخښلي دي.
دا نعمتونه، د انسان له هېڅ څخه پيدايښت د آدم عليه السلام په بڼه. سربېره پر دې نور لوی نعمتونه، اسلام او د مخلوقاتو پيدا کول د قرآن کريم د قانون په رڼا کې او همداسې نور نعمتونه چې د بشر د کشف له توان او وړتيا څخه لرې دي.
د الله (جل جلاله) د نورو نعمتونو سربېره، د ځمکې پر سر سفر کول دي، چې د اسلام مقدس دين له نظره، په هغه کچه چې انسانان يې په اړه فکر کوي، خورا مهم او اړين گڼل کيږي. د قرآني زده کړو په رڼا کې، د سفر فلسفه هم يو لړ مهم او حياتي موضوعات لري.
د سفر فلسفه د قرآني زده کړو په رڼا کې.
د سفر تر ټولو اړين، لوړ او گټور هدف د ماهيت له اړخه، د الله (جل جلاله) قدرت ته، د انسانانو متوجه کول دي؛ ځکه الله (جل جلاله) په خپل مبارک کلام کې د سفر پايله، انسانانو ته د کايناتو د منظم خلقت په اړه پوهاوی او د خپل ذات د يووالي او ځواک په اړه توجيه کولو ته اشاره ده، په دې مانا چې څه دا سفر آفاقي وي او څه هم انفسي، په پايله کې يې انسانان بايد د الله (جل جلاله) د خلقت

(c) ketabton.com: The Digital Library


په اړه فکر وکړي او د منظم خلقت په راز او رمز باندې ځان پوه کړي او ترځنګ یې د الله (جل جلاله) بندګان باید په څمکه کې د خپل ارزښت او مقام په هکله هم پوه شي.

همدارنګه د یادولو وړ ده چې د اسلام مبارک دین له نظره د سفر ارزښت خورا ډېر دی، په همدې پار په قرآن الکریم او د رسول الله په مبارکو احادیثو کې سربېره پر دې چې د سفر په ظاهري آثارو لکه (د سفر څخه د انسانانو خوند اخیستل)، د سفر د معنوي ارزښت هم یادونه شوې ده، چې په پایله کې یې سفر کولای شي، د انسانانو باطني حالت هم ښه کړي.

فلهذا د قرآن کریم له نظره، سفر داسې یو فرصت دی، چې موجوده انسانان کولای شي د تېرو خلکو د ژوند په اړه ځان خبر کړي، د سفر په پایله کې مونږ د تېرو انسانانو د ژوند، ویجاړو شوو کورونو، تمدنونو، مال او ثروت په هکله چې په خپل لنډ ژوند کې ورڅخه برخمن وو، خبرېږو.

❖ **د سفر له برنامو څخه اړین درسونه.**

- د الله (جل جلاله) د کمال په اړه پوهه ترلاسه کول.
- د دنیا د لنډ مهالې برنامې په هکله پوهه ترلاسه کول.
- په دې باندې ځان پوهول، چې د انسان د زوکړې پیل په اصل کې په آفاقي او انفسي نړۍ کې د سفر پیل دی.
- د سفر ملګري باید مشترکه مفکوره ولري، ځکه چې د آفاقي سفر دنده د الله (جل جلاله) د خلقت په اړه فکر کول دي.
- په سفر کې د پوه مشر ټاکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما د خبرو لنډيز دا چې، په (۸-۱۱-۱۴۰۲) د یو څو خوږو ملګرو سره مو د تاریخ معروفو او نېکو څېرو ( حضرت حافظ او سعدي رحمة الله اجمعین) ټاټوبي فارس ولایت (شیراز ښار) ته سفر درلود چې خلاصه په ډېرو موضوعاتو او د بحث وړ عنوانونو باندې په ډېره خلاصه توګه په څو لنډو ورځو کې پوه شوو.

په ځانګړې توګه، کله چې مې د پورته دوو لویو شخصیتونو (حضرت حافظ او سعدي) له زیارت څخه لیدنه کوله او د انسانانو ډلې ډلې مې لیدلې چې له مسلمانې او غیر مسلمانې نړۍ څخه، د دې شخصیتونو زیارت کولو لپاره راتلل؛ د خپل ځان سره مې دا فکر وکړ چې دا څومره لوی شخصیتونه وو، چې نن ورځ هم د موجوده انسانانو لپاره ژوندي دي او د دوی کارنامې او آثار په حقیقت کې د شعر او غزل په بڼه د الله (جل جلاله) او د انسان پېژندنې په هکله دي.

نن ورځ، د بشر د ژوند ژغورنې ضرورت دا دی، چې په ټوله سره د داسو لویو شخصیتونو ژوند او کارونه، قدم په قدم تعقیب کړو او د خپل ژوند نصب العین یې وګرځوو.

په پای کې، د خپل قدرمن ورور اعجازالحق محرابي څخه د دې سفر د مدیریت په پار د زړه له تله مننه کوم او د دې اعتراف کوم چې په دې سفر کې مې د نوموړي شخصیت څخه ډېر څه زده کړل او همدارنګه زه د محرابي صاحب د زده کوونکي افتخار هم له ځانه سره لرم.

په مینه او درنښت

شکرالله "محمودي"

اصفهان - پوهنتون

۱۶-۱۱-۱۴۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما د شیراز سفر تجربې، د مختلفو فرهنګونو سره پېژندګلوي او د نوي شخصیتونو او څېرو سره پېژندل وو. همدارنګه په یاد سفر کې مو د دوو لویو موزېمونو څخه هم لیدنه وکړه، یادو موزېمونو په تخت جمشید او په شاه چراغ زیارت کې موقعیت درلود. د دې موزېمونو د لیدلو په پایله کې زما علم، پوهې او درک نسبت نړۍ ته بدلون وموند او همدارنګه د یاد سفر څخه زما بله تجربه دا ده چې، سفر کولای شي موږ د ورځنیو اندېښنو څخه لرې وساتي او انسان ته مثبته انرژي ورکوي.
زما په شخصي اند، سفر د انسان شخصي پیاوړتیا، پوهې او د ژوند د ښه والي په برخه کې خورا ډېره مرسته کوي.
سفرونه د نورو خلکو دکلتورونو، طبیعي مناظرو، او ښکلو ځایونو څخه د کشف او لیدلو لپاره بهترین فرصت دی.
سفر موږ ته دا امکان په لاس راکوي چې د نړۍ د نورو خلکو د ژوند پر حالاتو خبر او د نویو څېرو او خلکو سره پېژندګلوي پیدا کړو.
سفر، انسانان د ستونزې پر وړاندې پیاوړي کوي او د دې سبب کیږي چې په خپل ځان او کلتور باندې ویاړ وکړي. سفر بې ساري خاطرات زموږ په ذهن کې رامنځته کوي او کولای شي زموږ ژوند ته اساسي بدلون ورکړي. د سفر په پایله کې، د نورو خلکو او کلتورونو سره د پېژندګلوي ترڅنګ موږ ته مثبت پیام راکوي او سفر په نړۍ کې د کلتورونو د تبادل په برخه کې خورا ډېره مرسته کوي.
زما لپاره د شیراز سفر د ښو خاطراتو له ډلې، د سفر په وروستۍ ورځ د تخت جمشید د لیدنې څخه وروسته، د فارس ولایت (شیراز ښار) د کلتوري لباسونو اغوستل او په یادو کالیو کې انځور اخیستل خورا ډېر جالب و او زموږ ټولو لپاره یې ډېر د خوشالي احساس را په برخه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د شیراز ښار سفر، زما د ژوند یو له ښو سفرونو څخه شمېرل کېږي، دا ځکه چې په دې سفر کې مو د شیراز له تاریخي ښار، ښکلې معمارۍ، موزېمونو، مینه ناکو خلکو څخه لیدنه او د خوندورو خوړو په پایله کې مو، په ذهن کې بې ساري خاطرې پاتې شولې.

امین الله "کوهي"

اصفهان – پوهنتون

۱۹ – ۱۱ – ۱۴۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


## پایله!

د دې کتاب د بحث اساسي محور او لیکنې موخه، د ځمکې پر سر د سفر کولو گټې، لارې چارې او فلسفې بیانول وو.
زمونږ په ټولنه افغانستان کې متاسفانه، سفر ته دا ډول تعریف ورکول کیږي: یو ځو کسان، یو ځای ته تلل، هلته پخلی کول، خواړه خوړل او مستي کول.
خو داسې نده، د سفر له اساسي موخو څخه، لکه څرنگه چې الله (جل جلاله) په کراتو سره په خپل مبارک کلام قرآن کریم کې ورته اشاره کړې، چې د آفاقي سفر موخه، د الله (جل جلاله) له نورو مختلف النوع ژوندي موجوداتو، کلتورونو، مذهبي فرقو، طبیعي مناظرو او حیواناتو څخه ځان خبرول او مطالعه کول دي او د خپلو شته مواردو سره یې پرتله کول، ترڅو حقایقو ته لار پیدا کړئ او دې یقین ته رسېدل چې په رښتیا هم د دې ټولو منظمو، مختلف النوع او رنگارنگو کایناتو تر شا حتما خالق شته چې هغه الله (جل جلاله) دی او همدا خالق به ببرته لکه څرنگه یې چې دا دنیا رامنځته کړله، آخرت به هم همداسې رامنځته کړي او هلته ده چې د دې نړۍ حساب او کتاب به ترسره کیږي.
سفر ته که یو تشبیهي مثال وړاندې کړم هغه داسې چې، دې دنیا ته زمونږ راتگ، درس او آزموینه گڼل کیږي.
او په آفاق کې سفر ته کولای شو د دې درس او آزموینې د آزمایشگاه تشبیه ورکړو، چې ژوندي مخلوقات د سفر په پایله کې، د تېرو مخلوقاتو د پاتې شویو آثارو، تمدنونو، ودانیو او د ورته نورو لیدو او کتو په پایله کې، آزمایش کوي او د خپل ځان د بدلون لپاره ورڅخه الگو اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدارنگه، په پورتنۍ لیکنه کې مو تاسو ته د ښه سفر کولو ځینو اړینو او مهمو لارو چارو ته هم کتنه کړې ده. ترڅو تاسو، د ګټور او ښه سفر په هکله خبر کړي او د خپلو سفرونو لپاره ترې ګټه واخلئ.

بلاخره، پر ځان یې ضرور بولم چې له خپلو ټولو مل ملګرو څخه د زړه له تله مننه وکړم؛ دا ځکه چې ما هم په دې سفر کې له دوی څخه ډېر څه زده کړل، ښه وخت مو سره تېر کړ چې همدا ښه توب او ګټور موضوعات مې ټول د همدې کتاب په بڼه ستاسو درانه حضور ته وړاندې کړي دي.

په پای کې، ستاسو ټولو ښاغلو/ آغلو لوستونکو څخه په خورا درنښت او عاجزانه توګه هیله کوم، که د لوستلو پر وخت له کومې تایپي، معنایي او یا هم مالوماتي ستونزې سره مخامخ کېږئ، نو د خپلې مهربانۍ او لورېنې په پار ما ترې خبر کړئ، ترڅو د اصلاح لپاره یې اقدام وکړم؛ دا ځکه چې انسان یو عاجزه مخلوق ګڼل کیږي.

په مینه او درنښت

اعجازالحق "محرابي"

۲۰ -۱۲ -۱٤۰۲

اصفهان - پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


١. القرآن الکریم

٢. نبوي احادیث

٣. رښتين، صديق الله ( ١٣٣۴). د هند سفر. پښور، *پښتو ټولنه*.

٤. زغم نسيمي، محب الله( ١٣٩٩). د ليکوالۍ عملي لارښود. کابل، *ايلينو خپرندويه ټولنه*.

٥. ښکلی، اجمل (١٣٨٩). د ژباړې اصول. جلال آباد ښار، *مومند خپرندويه ټولنه*.

٦. هاشمي، سيد محی الدين ( ١٣٧٢). د ليکوالۍ فن. پېښور، *دانش خپرندويه ټولنه*.

٧. رحمان دوست، جواد و بهنام فر، محمد (١٤٠١). سير آفاقی و برداشت های مولوی از آن در فيه مافيه. *پژوهشنامه متون ادبی دوره عراقی*، ٣(٣)، ٥٤-٣٩.

٨. فضيلت، محمود (١٣٨٤). دوسفر(علمی – پژوهشی). نشريه دانشکده ادبيات و علوم انسانی دانشگاه شهيد باهنر کرمان، *١(١٨)، ١٣٩-١٧٠*.

٩. فخار نوغانی، وحيده (١٣٩٣). بررسی معانی سفر آفاقی و دستاورد های آن از منظر عرفای مسلمان. *فصلنامه عرفان اسلامی*، *١١(۴٢)، ١۴١-١٢٢*.

١٠. حيدری نوري، رضا (١٣٩۴). سير آفاقی در سلوک عارفانه عطار. *فصلنامه عرفان اسلامی*، ١٣(٥٢)، ٢٣٦-٢١٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۱. میرباقیری فرد، سید علی اصغر (۱۳۹۰). بررسی و تحلیل جایگاه سفر آفاقی در متون عرفانی. *ادب فارسی*، ۱(٦)، ۷۲-۵۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سفر انځوریز کڅوړه

لومړۍ شپه، مهمان پذیر پردیس هوټل



(c) ketabton.com: The Digital Library


**لومړی ورځ، د حضرت حافظ روضه**



(c) ketabton.com: The Digital Library


لومړی ورځ، د حضرت سعدي روضه



(c) ketabton.com: The Digital Library


لومړی ورځ، د کریم خان زند ارگ



(c) ketabton.com: The Digital Library


**لومړی ورځ، د شاه چراغ زیارت**



(c) ketabton.com: The Digital Library


لومړی ورځ، د شاه چراغ داخل (موزیم)



(c) ketabton.com: The Digital Library


دوهمه ورځ، تخت جمشید



(c) ketabton.com: The Digital Library


دوهمه ورځ، تخت جمشيد



(c) ketabton.com: The Digital Library





استاد عبیدالله غزنوي


آصف الله آرین

(c) ketabton.com: The Digital Library


**شکرالله محمودي**



(c) ketabton.com: The Digital Library



امين الله کوهي



(c) ketabton.com: The Digital Library



**اعجازالحق محرابي**



(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library

د سفر وروستی انځور، د کارانديش اډه



**و تمت كليمة بالخير!**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**